Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Wardak Institute of High Education
Vice Chancellor of Academic And
Students Affairs

# Wardak Institute of Higher Education

## Catalog



د پوهې او ادب نړۍ ته یو سفر، چې هره پاڼه یې یوه نوې کیسه وړاندې کوي.
د زده کړې الهام، د هغه نسل لپاره چې د روښانه راتلونکي په لور گامونه اخلي.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه
د علمي او محصلانو چارو معاونیت

# د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې

## کتلاک



کال:
۱۴۰۴ هـ ل
۱۴۴۶ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

# د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې کتلاګ

کال: ۱۴۰۴ هـ ل / ۱۴۴۶ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتلاګ پېل پېژندنه:

==================


| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند: | وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه |
| د تألیف سپارښتنه: | شیخ مولوي صفت الله حقاني |
| د منځپانګې لیکنه او کتنه: | پوهنمل دکتور عنایت الرحمن مایار |
| د تألیف کال: | ۱۴۰۴ هـ ش |
| پته: | ټوپ دښته، سیدآباد ولسوالي، میدان وردګ- افغانستان |
| برېښنالیک: | info@wu.edu.af |
| ویب پاڼه: | www.wu.edu.af |
| فیسبوک پاڼه: | وردګ پوهنتون/ Wardak University |




# سریزه

**اَلْحَمْدُلِاَهْلِهِ وَالْصَّلوٰةُ عَلٰی اَهْلِهَا اما بعد!**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْم

عَلَّمَ اَلْاِنْسنَ مَالَمْ يَعْلَمْ سورة العلق ۵

**وَعَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه (ص): ((مَنْ يُرِدِ اللَّه بِهِ خَيْراً يُفَقِّههُ في الدِّينَ))** مُتَّفَقٌ عليه.

پوهه د انساني ټولنې لپاره د الله ﷻ يو ستر نعمت دی، هغه ټولنې چې له دې لوی نعمت څخه برخمنې دي، د نړۍ هسکې او پرمختللې ټولنې بلل کېږي. دوی د زده کړو او پوهې پر مټ دا نړۍ تر معاصر پرمختګه رسولې ده. د هرې ټولنې د پوهې او پرمختګ دا درونده رسالت او مأموريت د علمي او تحصيلي بنسټونو پر غاړه وي، همدغه بنسټونه دي، چې د ټولنې د رشد او پرمختګ په موخه متخصص او مسلکي کادرونه روزي او په دې توګه ټولنې ته د پرمختګ لاره هواروي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه هم د خپل عمر له تېرې يوې لسيزې راهيسې ياد هدف ته د رسېدو په موخه فعاليت کوي او د هېواد په کچه د نورو پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو په څېر يې د تدريس او تحقيق په برخه کې خپل ونډه ترسره کړې ده. د لوړو زده کړو دغه مؤسسې د تېر لس کلن عمر په اوږدو کې د ګڼو لاسته راوړونو ترڅنګ ګڼې ستونزې او مشکلات تر شا پرې ايښي دي، خو الحمدلله اوسمهال د هېواد په کچه د اسلامي ارزښتونو، کلتوري ويښتابه، اقتصادي پرمختګ او نورو علمي برخو کې د لوړو زده کړو او علمي کادرونو د روزنې پر يوه پوهنيز او اکاډميک مرکز بدله شوې ده، دغه اکاډميک مرکز د خپل جوړښت په لومړۍ لسيزه کې د لوړو زده کړو وزارت له اصولو او قوانينو سره سم د پنځو پوهنځيو لرلو سره سلګونه زده کړيالان په ملي او اسلامي روحيه سمبال ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړي دي. علمي او اکاډميک بنسټونه د ټولنې په کچه د پوهې او پرمختګ آره دنده پرغاړه لري، او د بشري ټولنو د علمي او فکري لوړتيا سرچينې ګڼل کيږي. له همدې کبله وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه؛ لوړو زده کړو ته لاسرسی يوه اسلامي وجيبه، ملي اړتيا، د سيمې او نړۍ په کچه سيال حيثيت ته د رسېدو په لاره کې يوازينی منطقي او بنسټيزه لاره ګڼي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه د همدغو اسلامي او ملي اړتياوو پربنسټ په ۱۳۹۳ کال کې د يوې ولسي-غوښتنې پر بنسټ رامنځته شوه او د يوه ولسي-عزم او ملاتړ په پايله کې د ملی سوداګرو، قومی مشرانو، فرهنګيانو او استادانو په مرسته يې لومړنۍ بېخبناوې پر پښو ودرېدې او فعاليت يې پيل کړ. ياده مؤسسه که څه هم په تېرو لسوکلونو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، خو لا هم د يوې نوې پيل شوې مؤسسې په توګه هڅې رواني دي، چې له نړيوالو اسلامي، اکاډميکو او پوهنيزو آرونو سره سم په بېخبنايي او مخبنائي برخو کې د

پراختیاجوګه شي او د هېواد په کچه د یو روښانه پوهنیز نظام جوړولو لپاره په کمي او کیفي توګه د کادرونو روزنه او د هغوی د علمي او مسلکي ځواک لوړتیا رامنځته کړي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په ټولو کاري برخو کې د دوامدارې عصريکېدنې په موخه په پلان کې لري، چې د استادانو ځاني ارزونې او پوهنيزې لوړتيا ته زمينه مساعده کړي او د هېواد په کچه محسوسو اړتياوو ته په کتو سره، د علمي لاسته راوړونو په رڼا کې ټولنيزو اړتياووته د ځواب وينې په موخه خپل پوهنځي او ديپارټمنتونه پر علمي او عصري معيارونو سمبال کړي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه دا خپل رسالت بولي، چې د زده کړې، تحقيق او تدريس لپاره آرام، هوسا، په علمي او اکاډميکو معيارونو برابر چاپېريال رامنځته کړي، ترڅو زده کړيالان په پوره ډاډ او اطمينان سره وکولای شي، په دغه مؤسسه کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي. د يو ريښتوني اسلامي ټولنې اخلاق د پوهو او زده کړې لرونکو وګړو له فکرونو سرچينه اخلي، له همدې کبله د هر ډول فساد په وړاندې مبارزه کول زموږ فردي او اجتماعي دنده ده، چې د يو ديني مسؤليت په توګه به هېڅکله هم له پامه ونه لوېږي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه هڅه کوي، خپل زده -کړيالان پر هغو اخلاقي ځانګړنو سمبال کړي، چې ټولنه يې له موجوديت څخه خوند واخلي او خلک ورته د خپلو اوږو بار نه، بلکې د خپلې مشال لرونکې امسا په سترګه وګوري.

موږ دا هرڅه د ټولنې د پرمختګ لپاره ترسره کوو او د ټولنې د اعتبار او اعتماد ترلاسه کولو لپاره اړينه بولو، ترڅو د دغه کتلاګ له لارې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه ټولنې ته معرفي او په تېره يوه لسيزه کې په علمي، تدريسي-او تحقيقي برخو کې د دغې مؤسسې مخينه، پرمختګونه، لاسته راوړنې او بلآخره ستونزې او مشکلات له ټولنې سره شريک کړو. په دې توګه به مو له يوې خوا د خپلو لاسته راوړونو او ظرفيتونو په بدل کې د ټولنې اعتبار ترلاسه کړی وي او له بله اړخه به مو ټولنې ته فرصت ورکړی وي، ترڅو د دغې مؤسسې د کړو وړو په اړه خپل نظرونه او پيشنهادونه له موږ سره شريک کړي، چې د اوږدمهاله ستراتيژيو د جوړېدو په برخه کې به ډېر ګټور واوسي.

دغه کتلاګ نه يوازې له ټولنې سره د اړيکې يوه وسيله دی، بلکې د مؤسسې په داخل کې به هم له استادانو او کارمندانو سره د هغوی د کاري ليدلورې په ټاکلو کې مرسته وکړي. پر دې سربېره وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه هر کال د کانکور ازموينې له لارې د سلګونه تنو محصلينو د جذب ظرفيت اعلانوي، دغه کتلاګ به له يادو محصلينو سره مرسته وکړي، ترڅو د دغې مؤسسې، پوهنځيو او ديپارټمنتونو د ليدلورو، موخو او نصابونو په اړه د معلوماتو په ترلاسه کولو سره د خپلې خوښې پوهنځيو او ديپارټمنتونو ته لاره پيدا کړي او په دې توګه به د هدفمندانه زده کړو په ترلاسه کولو سره ټولنې ته د مسلکي او متخصص کادرونو په توګه وړاندې شي.

د دغه کتلاګ پر پورتنیو موخو سربېره به دغه کتلاګ د اسلامي امارت مشرانو او په ځانګړې توګه د لوړو زده کړو محترم وزارت ته د دغې مؤسسې د لاسته راوړنو او ستونزو په اړه یو تصویر وړاندې کړي، زه د لوړو زده کړو وزارت له عالی مقام څخه، چې په تېرو څو کلونو کې یې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ته د ځانګړې پاملرنې کړې ده، مننه کوم او هیله لرم، چې د دغې مؤسسې عالي موخو ته د رسېدو په لاره کې مو له خپلې پاملرنې بې برخې نه کړي.

دغه راز د یادونې وړ بولم، چې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې، د علمي او محصلانو چارو او د مالي او اداري چارو له مرستیالیو څخه مننه وکړم، چې د دغه کتلاګ د ترتیب او تدوین په لاره کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې.

**شیخ مولوي صفت الله حقاني**

**د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس**



# د موضوعاتو لیک لړ


**سریزه ........ ۷**

**لومړی څپرکی ........ ۱۶**

**د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې پېژندنه ........ ۱۶**

موخې او برنامې ........ ۲۱

لرلید ........ ۲۲

رسالت ........ ۲۲

ارزښتونه ........ ۲۲

بنستیزې موخې ........ ۲۲

بنستیزې برنامې: ........ ۲۳

الف: مدیریتي برنامې ........ ۲۳

ب: علمي برنامې ........ ۲۳

ج: د کړنو معقولول ........ ۲۳

د: پراختیایي برنامې ........ ۲۴

**د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ریاست ........ ۲۵**

د ریاست اړوندو آمریتونه او مدیریتونه پېژندنه ........ ۲۶

۱- د دفتر عمومي مدیریت ........ ۲۶

۲- د دعوت او ارشاد آمریت ........ ۲۶

۳- د احصائیې او پلان عمومي مدیریت ........ ۲۷

د ریاست تشکیلات: ........ ۲۸

**د مؤسسې شوراګانې او عمومي کمېټې ........ ۲۹**

۱- رهبري شورا ........ ۲۹

۲- علمي شورا ........ ۲۹

۳- اداري شورا ........ ۳۰

۴- د کیفیت لوړاوي کمېټه ........ ۳۰

۵- د پلان او پالیسی کمېټه: ........ ۳۱

۶- د څېړنو او علمي مجلې کمېټه: ........ ۳۱

۷- د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو کمېټه: ........ ۳۱

۸- د برېښنایي زده کړو کمېټه: ........ ۳۲

۹- د ظرفیت لوړونې کمېټه: ........ ۳۲

۱۰- د فرهنګي چارو او نشراتو کمېټه: ........................................................................ ۳۲

۱۱- د ازمويني کمېټه ........................................................................ ۳۳

۱۲- د محصلانو د همغږۍ او سپورټ کمېټه: ........................................................................ ۳۳

۱۳- د دعوت او ارشاد کمېټه ........................................................................ ۳۴

۱۴- د نظم، دسپلين او شکايتونو د اورېدو کمېټه: ........................................................................ ۳۴

۱۵- د مالي او اداري چارو کمېټه: ........................................................................ ۳۴

۱۶- د نصاب عمومي کمېټه ........................................................................ ۳۴

۱۷- د چاپېريال ساتنې او نشهيي توکو په وړاندې د مبارزې کمېټه ........................................................................ ۳۵

**د علمي او محصلانو چارو معاونيت ........................................................................ ۳۶**

د علمي او محصلانو چارو د معاونيت اړوند آمريتونه ........................................................................ ۳۸

۱- د استادانو د ګمارنې او علمي ترفېعاتو آمريت ........................................................................ ۳۸

۲- د څېړنو او علمي مجلې آمريت لنډه پېژندنه۱۷ ........................................................................ ۳۹

۳- د کيفيت لوړاوي آمريت ........................................................................ ۴۰

۴- د استادانو د مسلکی پراختيا مرکز (PDC) ........................................................................ ۴۰

۵- د محصلانو چارو آمريت ........................................................................ ۴۱

۶- د محصلانو د خدمتونو او همغږۍ عمومي مديريت ........................................................................ ۴۲

د علمي او محصلانو چارو معاونيت تشکيلاتي چارت ........................................................................ ۴۳

**د مالي او اداري چارو معاونيت ........................................................................ ۴۴**

د مالي او اداري چارو د معاونيت اړوند مديريتونه ........................................................................ ۴۴

۱- د کارمندانو د چارو عمومي مديريت ........................................................................ ۴۵

۲- د مالي او اداري چارو عمومي مديريت ........................................................................ ۴۶

۳- د تهيې او تدارکاتو عمومي مديريت ........................................................................ ۴۷

۴- د معلوماتي تکنالوژۍ عمومي مديريت ........................................................................ ۴۸

۵- د کتابتون عمومي مديريت ........................................................................ ۴۸

۶- د خپرونو، اړيکو او عامه پوهاوي عمومي مديريت ........................................................................ ۴۹

۷- د ساتنې او پاملرنې عمومي مديريت ........................................................................ ۵۰

د مالي او اداري چارو د معاونيت تشکيلات ........................................................................ ۵۱

**دوهم څپرکی........................................................................ ۵۲**

**د پوهنځيو رياستونه، د ديپارتمنتونو آمريتونه او تدريسي مديريتونه ........................................................................ ۵۲**

د پوهنځي د رئيس دندې ........................................................................ ۵۲

د ديپارتمنتونو د آمرينو دندې: ........................................................................ ۵۲

د تدریسي چارو د عمومي مدیریتونو دندې: ........ ۵۴

**د کرنې پوهنځی ........ ۵۵**

موخې: ........ ۵۶

لرلید: ........ ۵۶

رسالت: ........ ۵۶

ارزښتونه: ........ ۵۶

توأمیتونه ........ ۵۶

امکانات: ........ ۵۷

د کرنې پوهنځي تشکیلات ........ ۵۸

**د کرنې پوهنځي دیپارتمنتونه ........ ۵۹**

الف: د نباتي علومو (Agronomy) دیپارتمنت: ........ ۵۹

موخې: ........ ۵۹

لرلید: ........ ٦۰

رسالت: ........ ٦۰

ارزښتونه ........ ٦۰

تحصیلی نصاب: ........ ٦۰

ب: د هارتیکلچر دیپارتمنت: ........ ٦۳

لیدلوری: ........ ٦۴

رسالت: ........ ٦۴

تحصیلی نصاب: ........ ٦۴

**د ښوونې او روزنې پوهنځی ........ ٦۷**

موخې: ........ ٦۸

لرلید ........ ٦۸

رسالت: ........ ٦۸

ارزښتونه ........ ٦۸

تواميتونه: ........ ٦۹

امکانات او اسانتیاوې ........ ٦۹

د ښوونې او روزنې پوهنځي تشکیلاتي جوړښت: ........ ٦۰

د ښوونې او روزنې پوهنځي دیپارتمنتونه ........ ۷۱

الف: فزیک دیپارتمنت ........ ۷۱

موخې: ........ ۷۱

لرلید: ........ ۷۱
رسالت: ........ ۷۲
د فزیک ځانګې تحصیلي نصاب ........ ۷۲
ب: ریاضي دیپارتمنت ........ ۷۵
لرلید ........ ۷۵
رسالت ........ ۷۶
د ریاضي ځانګې تحصیلي نصاب: ........ ۷۶
ج: بیولوژي دیپارتمنت ........ ۷۸
موخې: ........ ۷۸
لرلید ........ ۷۸
رسالت ........ ۷۸
ارزښتونه ........ ۷۸
د بیولوژي ځانګې تحصیلي نصاب ........ ۷۹
د: کیمیا دیپارتمنت ........ ۸۲
موخې: ........ ۸۲
لرلید: ........ ۸۲
رسالت: ........ ۸۲
ارزښتونه ........ ۸۲
د کیمیا ځانګې تحصیلي نصاب: ........ ۸۳
**د کمپیوټر ساینس پوهنځی ........ ۸۶**
مــوخــې: ........ ۸۶
لرلید: ........ ۸۷
رســالــت: ........ ۸۷
ارزښتونه: ........ ۸۷
توأمیتونه: ........ ۸۷
امکانات ........ ۸۸
د کمپیوتر ساینس پوهنځي تشکلاتي جوړښت ........ ۸۹
د کمپیوټر ساینس پوهنځي دیپارتمنتونه ........ ۹۰
الف: د معلوماتي سیستمونو څانګه ........ ۹۰
لـرلیـد ........ ۹۰
رسالت ........ ۹۰

ارزښتونه ........ ۹۰
د معلوماتي سيستمونو د څانګې تحصيلي نصاب: ........ ۹۱
ب: د شبکې انجنيري څانګه: ........ ۹۳
موخې: ........ ۹۳
لرليد: ........ ۹۳
رسالت ........ ۹۴
ارزښتونه ........ ۹۴
د شبکې انجنيرى څانګې تحصيلي نصاب ........ ۹۴
**د شرعياتو پوهنځی ........ ۹۸**
موخې: ........ ۹۸
لرليد: ........ ۹۹
رسالت: ........ ۹۹
امکانات: ........ ۹۹
توامیتونه: ........ ۹۹
تشکيلاتي جوړښت: ........ ۱۰۰
**د شرعياتو پوهنځي ديپارتمنتونه ........ ۱۰۱**
الف: د فقهې او قانون ديپارتمنت ........ ۱۰۱
موخې: ........ ۱۰۱
لرليد ........ ۱۰۱
رسالت ........ ۱۰۲
ارزښتونه: ........ ۱۰۲
د فقهې او قانون ديپارتمنت تحصيلي نصاب ........ ۱۰۲
ب: د اسلامي تعليماتو څانګه ........ ۱۰۵
موخې ........ ۱۰۵
لرليد ........ ۱۰۵
رسالت ........ ۱۰۵
ارزښتونه ........ ۱۰۶
د اسلامي تعليماتو د ديپارتمنت تحصيلي نصاب ........ ۱۰۶
**د اقتصاد پوهنځي ........ ۱۰۹**
موخې ........ ۱۰۹
لرليد: ........ ۱۱۰

رسالت: ........................................................ ۱۱۰

ارزښتونه: ........................................................ ۱۱۰

د اقتصاد پوهنځي تشکیلاتي جوړښت ........................................................ ۱۱۰

د اقتصاد پوهنځي دیپارتمنتونه ........................................................ ۱۱۲

الف: د اداري او سوداګرۍ دیپارتمنت ........................................................ ۱۱۲

موخې: ........................................................ ۱۱۲

لرلید: ........................................................ ۱۱۳

رسالت: ........................................................ ۱۱۳

ارزښتونه: ........................................................ ۱۱۳

د اداري او سوداګرۍ څانګې تحصیلي نصاب ........................................................ ۱۱۳

ب: د ملي اقتصاد دیپارتمنت: ........................................................ ۱۱۶

موخې ........................................................ ۱۱۶

لرلید: ........................................................ ۱۱۶

رسالت: ........................................................ ۱۱۷

ارزښتونه: ........................................................ ۱۱۷

د ملي اقتصاد څانګې تحصیلي نصاب ........................................................ ۱۱۷

**درېیم څپرکی ........................................................ ۱۲۰**

**د مؤسسې عمومي امکانات ........................................................ ۱۲۰**

د کرنې څېړنیز فارم ........................................................ ۱۲۰

عمومي کتابتون ........................................................ ۱۲۲

کمپیوتر لب ........................................................ ۱۲۳

جامع مسجد ړ ........ ۀ ........ ې ........ ۍ ........................................................ ۱۲٤

د وردګ د لو و زده ک و مؤسسـ چاپېردیوال (احاطه) ........................................................ ۱۲٥

## لومړۍ څپرکی

### د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې پېژندنه

د وردګ ولایت په کچه د پوهنتون د ایجاد غوښتنه ډېره پخوانۍ مخینه لري، په دغه ولایت کې پوهنتون یو داسې نوم و، چې هره کورنۍ ورسره آشنا وه او په هره کورنۍ کې یې یو استازی (محصل) درلود، پر دې سربېره د افغانستان د ډېرو پوهنتونونو یو زیات شمېر محصلین له دغه ولایت څخه وو او دې خبرې د هېواد په کچه شهرت موندلی و، په دغه ولایت کې خلک له پوهنتون سره ځانګړې مینه او علاقمندي لري او دا تر ټولو ډېره د ویاړه خبره بولي، چې اولادونه یې پوهنتون کې زده کړې وکړي او یا هم له پوهنتون څخه فارغ شي. له همدې امله له ډېر پخوا راهیسې په پراخه کچه په دغه ولایت کې د پوهنتون د ایجاد غوښتنه کېده، که څه هم تر ډېره ځنډه دغې غوښتنې ته ځواب ونه ویل شو، خو بلآخره په ۱۳۹۲ کال کې دغه موضوع د یوې پراخې ولسي غوښتنې په توګه له لوړو زده کړو وزارت سره شریکه شوه، که څه هم په لومړیو کې ورته مثبت ځواب ونه ویل شو، خود پرلپسې تاکید په پایله کې موضوع د لوړو زده کړو وزارت له لوري د (۳۴۴) ګڼه او (۰۵-۱۳۹۲-۰۸) نېټې وړاندیز په ترڅ کې د وخت جمهوري ریاست ته وړاندیز شوه، چې د (٦٢٣٦) ګڼې او (۰۴-۱۳۹۲-۱۰) نېټې حکم په ترڅ کې ورته منظوري ورکړل شوه او د لوړو زده کړو وزارت ته دنده وسپارل شوه، ترڅو د کرنې او اوبولګونې وزارت سره په همغږۍ په اوسني موقعیت (ټوپ دښته) کې د پوهنتون لپاره د ځمکې ټاکلو په برخه کې اجراآت وکړي. د همدغه حکم په رڼا کې د لوړو زده کړو وزارت او د افغانستان د ځمکو د مستقلې اداري اړوند د ځمکو د تنظیم او توزیع ریاست د یو باصلاحیته پلاوي ترمنځ د یو پروتوکول په لاسلیکولو سره ۵۰۰ جریبه ځمکه وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ته انتقال او د (۲۹۱٦۳/۷۱۹) ګڼې او (۳-۸-۱۳۹۴) لیک په بربنسټ ورته وسپارل شوه. د ځمکې تر انتقال وړاندې په ۱۳۹۳ لمریز کال کې لوړو زده کړو وزارت دغې مؤسسې ته په علمي او اداري برخو کې مختصر رسمي تشکیل منظور کړ، چې د مؤسسې ریاست، د بشرۍ سرچینو، مالي او اداري چارو مدیریت، د کرنې پوهنځي ریاست، د کرنې پوهنځي تدریسي مدیریت، د هارټیکلچر او مالدارۍ دیپارټمنتونه له شپږو تنو کادري بستونو سره په کې شامل وو. په ۱۳۹۳ لمریز کال کې د یو لړ ستونزو او ځای د نه شتون له امله دغې مؤسسې فعالیت پیل نه شو کړای، کادري بستونه یې هم موقتاً نورو پوهنتونونو ته ورکړل شول، خو په ۱۳۹۴ لمریز کال کې دغې مؤسسې پر همدغه لږ شمېر تشکیل له ګڼو ستونزو او مشکلاتو سره مل په کار پیل کړ، خو د مالدارۍ په برخه کې د کادرونو د نه پیدا کېدو له امله دغه مؤسسه اړ شوه، ترڅو له لوړو زده کړو وزارت څخه د مالدارۍ دیپارټمنت پرځای د اګرانومي دیپارټمنت د ایجاد غوښتنه وکړي، په پای کې لوړو زده کړو وزارت د (۵۱۲/۵۱۵) ګڼې او (۱۳۹۴/۲/۱۴) نېټې حکم په واسطه د مالدارۍ دیپارټمنت په ځای د اګرانومي دیپارټمنت منظور کړ. په دې توګه د لومړي ځل لپاره د ۱۳۹۴ کال له کانکور ازموینې څخه د کرنې پوهنځي دوو څانګو (اګرانومي او هارټیکلچر) ته یوسلو پنځوس (۱۵۰) تنه محصلین جذب شول.

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په پیل کې مشخص تعمیر او ځای نه درلود، له همدې امله ورته د ټوپ دښتې د لیسې یو تعمیر په اختیار کې ورکړل شو، ترڅو خپل لومړني فعالیتونه په دغه ودانۍ کې پیل کړي، یادې ودانۍ اووه

اطاقونه لرل، چې په دوو اطاقونو کې دفترونه جوړ شول، درې اطاقونه محصلینو ته د شپې تېرولو لپاره ځانګړي شول، یو اطاق ورته د ټولګي په توګه په پام کې ونیول شو او یو بل اطاق محافظینو ته ځانګړی شو. که څه هم پیل ډېر سخت و، هېڅ ډول امکانات د دغې مؤسسې په اختیار کې نه وو، له هره اړخه دغه مؤسسه له ستونزو او مشکلاتو سره مخ وه، خو د دې ټولو ستونزو د حل لپاره یوازې یوه تکیه موجوده وه، چې هغه پر الله پاک باور او د عامو خلکو قوي ملاتړ و، چې دغه مؤسسه یې پر پښو ودروله. د ۱۳۹۴ تحصیلي کال په وروستیو کې د ازموینو ملي ادارې د ۱۳۹۵ کال لپاره د محصلین د جذب ظرفیت وغوښت، په دې توګه د راتلونکي کال ستونزې رامخکې شوې او په دې اړه فکر وشو، چې څنګه کولای شو، په ۱۳۹۵ کال کې د روان کال پر ۱۵۰ تنو محصلینو سربېره ۱۵۰ تنو نورو محصلینو ته هم د تدریس زمینه مساعده کړو، د هغه وخت موجوده شرایطو ته په کتو سره دا کار ډېر سخت او ناشونی برېښېدو، ځکه له یوې خوا د یخنی موسم راورسېد او بل پلو موږ د راتلونکي کال د محصلینو لپاره مناسب ځای نه درلود. له همدې امله ستونزه د هغه وخت له قومي مشرانو، علماوو، د پوهنتون استادانو او سوداګرو سره شریکه شوه، الحمدلله د ولسونو، مشرانو، علماوو، استادانو او سوداګرو د قوي عزم په پایله کې پرېکړه وشوه، ترڅو په لنډه موده کې پر هغه ځمکه باندې یو کوچنی تعمیر جوړ کړي، چې د پوهنتون لپاره ځانګړې شوې وه. عامو خلکو او تجارانو یې د جوړولو ټېر وډباوه او د ۱۳۹۴ کال په قوس میاشتې د هغې کوچنی ودانۍ لومړنۍ لیکې پر ځمکه وکښل شوې، چې د ۱۳۹۵ کال په حمل میاشتې کې باید ۳۰۰ تنه محصلینو په کې تحصیل پیل کړی وی. له نیکه مرغه یاده ودانۍ د ژمي په دریو میاشتو کې بشپړه شوه او په حمل میاشت کې محصلینو په کې عملاً درسونه پیل کړل او د ټوپ لیسې په ودانۍ کې ورته لیلیه ورکړل شوه.



انځور ۱: د ولسي تعمیر ودانۍ

که څه هم تر دې ځایه د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې مزل له ډېرو سختیو او کړاوونو ډک و، خو له دې وروسته لږ تر لږه د کار بستر معلوم شو، د پوهنتون ځمکه او موقعیت وټاکل شول او د لوړو زده کړو وزارت هغه ټولې پوښتنې ځواب شوې، چې له امله یې په ملي بودجه کې دغې مؤسسې ته برخه نه شوای ورکولی، د هغو له جملې څخه یو هم د ځمکې د لېږد مسله وه، چې د ۱۳۹۴ کال تر وروستیو پورې دغې مؤسسې ته وسپارل شوه او لوړو زده کړو وزارت په ۱۳۹۵ کال کې د ښوونې او روزنې پوهنځي ترسرلیک لاندې د لومړي ځل لپاره په ملي بودجه کې د دغې مؤسسې لپاره د یوې ودانۍ د جوړولو بودجه په پام کې ونیوه، چې د تدارکاتي چارو له بشپړولو وروسته یې په همدې کال د جوړولو چارې پیل شوې. دغه ودانۍ په ۱۳۹۷ کال کې بشپړه شوه، چې د نویو پوهنځیو د ایجاد لپاره یې زمینه مساعده کړه.



انځور ۲: د ښوونې او روزنې پوهنځي ودانۍ

ورپسې په ۱۳۹۶ کال کې د بانکي جهاني (HEDP) له بودجې څخه د کرنې پوهنځي د ودانۍ د جوړولو چارې پیل شوې، د دغې ودانۍ چارې تر دې مهاله بشپړې شوې نه دي، خو لوړو زده کړو وزارت یې په ۱۴۰۴ کال کې د بشپړولو حکم کړی دی.



انځور ۳: د کرنې پوهنځي ودانۍ

په همدغه (۱۳۹۶) کال کې د یو سوداګر (دکتور محمد خالد رحیمي وردګ) په مرسته د دغې مؤسسې لپاره په شپږسوه مترمربع مساحت کې د جامع مسجد د جوړولو چارې پیل او په ۱۳۹۷ کال کې بشپړې شوې، یاد مسجد په یوه پوړ کې په پاخه او اساسي توګه جوړ شوی، چې ښکلې ګمبزه، دنګ منار او عصري تشنابونه لري.



انځور ٤: د دکتور محمد خالد رحیمي جامع مسجد

په ۱۳۹۸ کال کې د څېړنیز مرکز د ودانۍ چارې پیل شوې، چې ترڅه ځنډ وروسته په ۱۴۰۳ کال کې بشپړې شوې، د دغې ودانۍ په جوړولو سره د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو لپاره د څېړنې او مطالعې په برخه کې فرصتونه رامنځته او ګڼې ستونزې پرې هوارې شوې.



انځور5: د څېړنو مرکز ودانۍ

په ۱۴۰۲ کال کې د دغې مؤسسې له پنځه سوه جریبه ځمکې څخه د چاپېردیوال (احاطې) د جوړولو چارې پیل او په ۱۴۰۳ کال کې بشپړې شوې.



انځور٦: وردگ پوهنتون عمومي دروازه

دغه راز په ۱۴۰۳ کال کې د دغې مؤسسې لپاره په اتلس جريبه ځمکه کې کرنيز تحقيقاتي فارم جوړ شو، چې د کرنې پوهنځي د استادانو او محصلينو لپاره يې د کرنيزو څېړنو لاره هواره کړه، پر دې سربېره په همدغه کال د لومړي ځل لپاره مؤسسه د ښاري برېښنا شبکې سره وصل او ګڼې ستونزې پرې هوارې شوې. په دې توګه په ۱۴۰۳ کال کې د سېلابرو د تحکيم کارۍ، پلونو، اساسي او فرعي سړکونو د جوړولو او کرېږولو چارې پيل شوې، چې په نږدې راتلونکې کې به بشپړې شي.

تر بېخبنائي چارو ورهاخوا تر ۱۴۰۳ کال پورې په علمي برخو کې هم د پام وړ چارې ترسره شوې دي، د اکاډميکې پراختيا په لړ کې لاندې پوهنځي او ديپارتمنتونه ايجاد شوي دي:

۱- د کرنې پوهنځی، چې په ۱۳۹۳ کال کې ايجاد شوی، د اګرانومي او هارټيکلچر دوه ديپارتمنتونه لري او تر دې مهاله يې شپږ دورې فارغين ټولنې ته د خدمت په موخه فارغ کړې دي.

۲- د ښوونې او روزنې پوهنځی، چې په ۱۳۹۹ کال کې ايجاد شوی، د رياضي، فزيک، کيميا او بيولوژي څلور ديپارتمنتونه لري، له رياضي او فزيک څانګو څخه يې يوازې يوه دوره محصلين ټولنې ته د خدمت په موخه فارغ شوي دي.

۳- د کمپيوټر ساينس پوهنځی، چې په ۱۴۰۰ کال کې ايجادی شوی، د معلوماتي سيستمونو او د شبکې انجنيرۍ دوه ديپارتمنتونه لري او په ۱۴۰۴ کال کې به لومړۍ دوره محصلين ټولنې ته د خدمت په موخه فارغ کړي.

۴- د شرعياتو پوهنځی، چې په ۱۴۰۱ کال کې ايجاد شوې، د فقهې او قانون، او اسلامي تعليماتو دوه ديپارتمنتونه لري او په ۱۴۰۵ کال کې به لومړۍ دوره محصلين ټولنې ته د خدمت په موخه فارغ کړي.

۵- د اقتصاد پوهنځی، چې په ۱۴۰۲ کال کې ايجاد شوې، د ادارې او سوداګرۍ، او ملي اقتصاد دوه ديپارتمنتونه لري او په ۱۴۰۷ کال کې به لومړۍ دوره محصلين ټولنې ته د خدمتو په موخه فارغ کړي.

په دې توګه وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه تر دې مهاله پنځه پوهنځي، ۱۲ ديپارتمنتونه، ۱۳۷۲ تنه محصلين، ۸۳ تنه کادري تشکيل، ۸۸ تنه اداري تشکيل لري.

**موخې او برنامې**

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په تېر لس کلن مزل کې پرلپسې دا هڅه کړې، چې د هېواد په کچه د زده کړو، تحصيل او مسلکي کادرونو د روزنې په برخه کې هېوادوالو ته هغسې خدمتونو وړاندې کړي، چې هم په ملي او هم په نړيوالو اصولو او معيارونو سره برابر واوسي او په ټولو موجوده برنامو کې کيفيت او کميت ته په کتو سره داسې متخصصو او مسلکي کادرونه ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړي، چې هم د کار کولو لپاره کافي وړتيا ولري او هم يې د کار کولو لپاره په ټولنه کې د کار بازار موجود واوسي، همدغې موخې ته د رسېدو لپاره هڅه شوې، ترڅو ټولې علمي برنامې د اوسني عصر له غوښتنو سره سمې تنظيم شي.

## لرلید

وردگ لوړو زده کړو مؤسسه به په ټول ځواک او توان سره د پوهې او څېړنې په برخه کې د هغو شرایطو او معیارونو د بشپړاوي لپاره هڅه کوي، چې په پایله کې د لوړو زده کړو د خدمتونو د ترسره کولو له لیارې ټولنې ته د خدمت جوګه او د پام وړ مقام لاسته راوړي.

## رسالت

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په خپل علمي او اکاډمیک بهیر کې د هېواد د نورو پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو ترڅنګ د متخصصو کادرونو د روزلو مسؤلیت پر غاړه لري او د ټولنې د هوساینې او پرمختګ په موخه د معیاري زده کړو او با کیفیته خدمتونو په وړاندې کولو سره، د نني عصر د غوښتنو پر بنسټ کادرونه روزي.

## ارزښتونه

- ✓ انصاف او عدالت .
- ✓ په خدماتو کې کیفیت او د پروګرامونو طرحه کول .
- ✓ علمي، مالي او اداري استقلالیت.
- ✓ شفافیت او حساب ورکونه.
- ✓ صداقت او ملي ارزښتونو ته درناوی.
- ✓ هڅه، خلاقیت او ابتکار.

## بنسټیزې موخې

۱- د هېواد په کچه د ټولنیزې ودې او اقتصادي پراختیا په موخه د علمي او څېړنیزو فعالیتونو له لارې د لوړو زده کړو د کیفیت لوړاوی.

۲- د اوسني عصر له غوښتنو سره سم د لیسانس په کچه د وړتیا لرونکو علمي کادرونو روزل او د کار په بازار کې له اړتیا سره سم د هغوی نظري او عملي وړتیاوې لوړول.

۳- د تحصیلي آسانتیاوو رامنځته کول (کتابتون، درسي مواد، کمپیوټر لب، لابراتوار، مناسب درسي چاپیریال، ټولګي او عصري تجهیزات)

۴- د ټولنې له اړتیاوو سره سم د درسي برنامو پرلپسې کتنه او پراختیا، او د تدریس په برخه کې له مؤثرو او اغېزمنو میتودونو څخه کار اخیستل.

۵- د تدریس، تحقیق، علمي او فرهنګي برنامو په لړ کې د اکاډمیک نظم او دسپلین رامنځته کول.

۶- د علمي کادر غړو، متخصصینو او محصلانو لپاره د کار او کړنو د وضعیت د ښه والي په موخه د خدماتي چارو ښه تنظیم.

۷- د علمي کادرو غړو، استادانو او محصلینو د علمي وړتیاوو د لوړولو په موخه د علمي کنفرانسونو، سمینارونو، سمپوزیمونو او ورکشاپونو په لاره اچول.

۸- کیفیت لرونکو او معیاري زده کړو ته د لاسرسي موخه د پرمختللو او مجهزو بیخبناوو رامنځته کول.

**بنسټیزي برنامې:**

**الف: مدیریتي برنامې**

- د پوهنتون کچې ته د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې ارتقا
- د فساد او بیروکراسۍ په وړاندې مبارزه
- د علمي او اداري تشکیلاتو پراختیا
- د مرستو جلبول او د عایداتي سرچینو رامنځته کول
- د علمي برنامو جوړول او پر تېرولو تحصیلي برنامو څارنه کول
- له رسنیو، دولت او ټولنې سره د مؤسسې د اړیکو مدیریت کول
- د محصلانو لپاره د ملاتړو برنامو رامنځته کول او څارنه

**ب: علمي برنامې**

- د کیفیت لوړاوي په برخه کې د هیواد په کچه د بشپړ ملي اعتبار ترلاسه کول
- د استادانو د ظرفیتونو د لوړاوي په موخه د ماسترۍ او دوکتورا په برخه کې کورنیو او بهرنیو بورسونو ته د علمي کادر غړو ورپېژندل.
- د تدریس ترڅنګ د علمي کادر غړو او محصلینو ته د څېړنیزو سهولتونو چمتول کول
- دعلمي کادر غړو او محصلینو د څېړنیزو کارونو د خپرولو په موخه د علمي ژورنالونو خپرول او پراخول
- د لوړو زده کړو وزارت له لوري د تائید شوي تحصیلي نصاب پلي کول
- د تدریس په برخه کې له معاصرو او اغېزمنو میتودونو څخه کار اخیستل
- د نویو پوهنځیو او دیپارتمنتونو ایجادول
- د الکترونیکي زده کړو پراخول او د معلوماتي تکنالوژۍ د بیخبناوو پراختیا

**ج: د کړنو معقولول**

- د کلنۍ بودجې د لګښت لپاره معقول پلان جوړل او له اړتیا سره سم په معقوله توګه د هغو لګول
- د کار په بازار کې له اړتیاوو سره سم د تحصیلي برنامو ایجادول
- هر کال بېلابېلو پوهنځیو ته معقول شمېر محصلانو جذبول
- د کرېډیټ سیستم د پلي کولو لپاره د مناسب بستر رامنځته کول
- د علمي کارونو او ښوونیزو برنامو د پراختیا او تطبیق په موخه د امکاناتو رامنځته کول

- د فرهنگي، هنري او ورزشي فعالیتونو لپاره د لارو هوارول
- د روغتیایي، مشورتي، رواني روغتیا او کارموندنې په برخه کې د خدمتونو وړاندې کول
- له پوهنتوني چاپېریال سره د نوو شاملو شوو محصلانو آشنا کول او د چاپېریال ساتنې په برخه کې هغوی ته سمینارونه وړاندې کول.
- د وړتیا او تخصص په اساس د استادانو او اداري کارمندانو ګمارل
- د څېړنو په برخه کې د لومړیتوبونو پېژندل او پر هغو موارد و څېړنې کول چې ټولنه په لومړي پړاو کې ورته اړتیا لري.
- په کادري او اداري برخو کې د الکترونیکي سیستمونو رامنځته کول او له هغو څخه ګټه اخیستل

**د: پراختیایي برنامې**

- د بېلابېلو پوهنځیو لپاره د تدریسي تعمیرونو جوړول او د هغو تجهیزول
- د طب پوهنځي، کادري روغتون او کلینیک لپاره د ودانیو جوړول او تجهیزول
- د کتابتون، مطالعې صالون، مرکزي لابراتوار او څېړنیزو مرکزونو لپاره د ودانیو جوړول او تجهیزول
- د غونډو تالار، جمنازیوم او سپورتي لوبغالیو جوړول او تجهیزول
- د ماستر پلان مطابق د پوهنتون د داخلي سړکونو او کانالیزاسیون او زرغونو ساحو جوړول او پراخول
- په موجود زېربناوو کې د زلزلې، اورلګېدونې او یا نورو پېښو حالاتو د مدیریت په موخه د سیستمونو رامنځته کول.
- محصلانو ته د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د لیلو، تفریحي او مطالعاتي امکاناتو رامنځته کول
- د مؤسسې د داخلي او خارجي ترانسپورت لپاره، د پارکینګونو، اړوندو زیربناوو جوړول او د ترانسپورتي سهولتونو رامنځته کول.

## د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ریاست

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د تشکیلاتو په رئس کې د مؤسسې رئیس قرار لري، چې د اسلامي امارت او د لوړو زده کړو وزارت د ټولو احکامو، فرامینو، مقرراتو، هدایاتو او طرزالعملونو په روښنایی کې د مؤسسې مشري کوي. د مؤسسې رئیس د یو لړ تعریف شوو دندو په تر سره کولو مکلف دی، چې عبارت دي له:

۱. د پوهنتون/ مؤسسې هوکړو او اهدافو ته د رسېدو په موخه د لوړو زده کړو وزارت له سپارښتنې سره سم د رهبري او عالي شورا په غونډو کې ګډون کول.

۲. د محصلانو لپاره د تحصیلي وضعیت، درسي کتابونو او لکچرنوټونو د ښه والي په موخه د آسانتیاوو او اړینو تدابیرو رامنځته کول.

۳. د علمي، څېړنیزو، فرهنګي او تربیتي کړنلارو رامنځته کول او د محصلانو او استادانو د وړتیا لوړونې په موخه د هغو له پلي کېدو څخه څارنه او کنټرول ترسره کول.

۴. د تقنیني اسنادو او لوایحو سره سم د استادانو د ښوونلارو (میتودونو)، درسي، علمي او فرهنګي پلانونو او برنامو له تطبیق څخه څارنه او کنټرول ترسره کول.

۵. د پوهنتون/ مؤسسې په کچه د علمي شورا د غونډو مشري کول او د ترسره شوو پرېکړو له تطبیق څخه څارنه کول.

۶. د نظم او دسپلین د رامنځته کېدو او د سالمو اکاډمیکو فعالیتونو د پرمختګ په موخه د طرحو وړاندې کول.

۷. په پوهنتون/ مؤسسه کې د نویو تدریسي، څېړنیزو او ښوونیزو سیستمونو د رامنځته کېدو او پراختیا په موخه په علمي او فرهنګي برخو کې د ملي او نړیوالو مؤسساتو د پام را اړونې په موخه د اړیکو پراختیا او ساتنه.

۸. د پوهنځیو په کچه د علمی شوراګانو د پرېکړو تائید، رد او یا هم د اړتیا په صورت کې علمي شورا ته د هغو وړاندې کول.

۹. ټاکل شوو موخو ته د رسېدو لپاره د وزارت له عمومي پلان سره سم د میاشتنیو، ربعوارو او کلنیو پلانونو جوړول.

۱۰. تر لاس لاندې کارمندانو ته د ورکشاپونو، سمینارونو او کاري بهیر له لارې د مسلکي وړتیا لېږدول.

۱۱. د پوهنتون/ مؤسسې د کلني کاري پلان پر بنسټ د بودجوي اړتیاوو تشخیص او اړوند ریاست ته یې وړاندېزول.

۱۲. د تر لاس لاندې کارمندانو مشري، مدیریت او ارزونه ترسره کول، د ښوونیزو اړتیاوو سنجول او د ظرفیتونو لوړول.

۱۳. د اړوندې برخې له کړنو څخه د میاشتنیو، ربعوارو او کلنیو راپوروونو وړاندې کول او د اړتیا پرمهال له مهمو کړنو او لاسته راوړنو څخه د مشرتابه د خبراوي په موخه د راپوروونو وړاندې کول.

۱۴. د نورو هغو دندو ترسره کول، چې د اړوندو چارواکو له لوري د وزارت له پالیسی سره سمې سپارل کیږي.

۱۵. د چارو او دندو په اړه د همغږی رامنځته کول او په یوه واحده لاره د چارو د تعقیب په موخه له نورو رئیسانو سره د اړیکو ټینګول.

۱۶. د پرېکړو لپاره پر وخت سره د اطلاعاتو ترلاسه کولو او همغږی رامنځته کولو په موخه له نورو بهرنیو ذیدخله واحدونو سره د اړیکو ساتل.

د مؤسسې رئیس دوه مرستیالان لري، چې یو یې د علمي او محصلانو چارو مرستیال دی او بل یې د مالي او اداري چارو مرستیال. مرستیالان د پوهنتون له رئیس سره په څنګ کې د اړوندو برخو د مرستیالی چارې پرمخ وړي.

د لوړو زده کړو وزارت د ۱۴۰۳ کال له منظور شوي تشکیلاتي طرحې سره سم د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د ریاست په تشکیل کې د دفتر عمومي مدیریت، د اسنادو، اړیکو او آرشیف مدیریت، د دعوت او ارشاد آمریت، د احصائیې او پلان عمومي مدیریت، د علمي او محصلانو چارو معاونیت او د مالي او اداري چارو معاونیت شتون لري، چې هر یو به په ځانګړي توګه معرفي شي.

### د ریاست اړوندو آمریتونه او مدیریتونه پېژندنه

### ۱- د دفتر عمومي مدیریت

د دفتر عمومي مدیریت د ټولو لاربښوونو، احکامو، فرامینو او مصوبو د تطبیق، تکثیر او کنترول چارې پر غاړه لري. د دغه مدیریت په اساسي دندو کې د لوړو زده کړو وزارت له مشرتابه، رسنیو او نورو اړوند مراجعو سره د ټولو هغو مجلسونو، مطبوعاتي کنفرانسونو او غونډو ترتیبول شامل دي، چې د هدایاتو ترلاسه کولو، د نظرونو شریکولو او ستونزو د حل په موخه جوړېږي. پر دې سربېره دغه مدیریت د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د مشرتابه غونډو د ثبت او تکثیر چارې، د مطبوعاتي غونډو د تنظیم له چارو څارنه، د لیکونو، وړاندیزونو، استعلامونو او نورو اړوندو اسنادو د تطبیق او تکثیر په موخه د ریاست له مقام څخه هدایت اخیستل، د تصمیم نیونې په موخه د مؤسسې له ریاست سره د لوړو زده کړو وزارت او وزیرانو شورا د پرېکړه لیکونو او د امیرالمؤمنین حفظه الله د احکامو او فرامینو شریکول او د روڼتیا په موخه د لوړو زده کړو وزارت د لایحو، مقررو او مصوبو له تطبیق څخه څارنه کول، شامل دي. د دفتر عمومي مدیریت تر چتر لاندې د اړیکو، اسنادو او آرشیف مدیریت قرار لري، چې مهمې او اساسي دندې یې د اسنادو، فرمانونو، حکمونو، هدایاتو او مصوبو ثبت او تکثیر او پر هغو له ترسره شوو اجراآتو څخه ډاډ ترلاسه کول او د دفتر له عمومي مدیریت سره یې همغږي کول دي.

### ۲- د دعوت او ارشاد آمریت

د دعوت او ارشاد آمریت په ۱۴۰۳ کال کې ایجاد شو، د دغه آمریت په مهمو دندو کې د مؤسسې د ټولو کادري، اداري، خدماتي کارمندانو او محصلانو د دیني پوهې لوړولو په موخه د درسي حلقو جوړول، د قرآنکریم تفسیر او ترجمه کول، په حکیمانه توګه د ټولو منکراتو له منځه وړل او د معروفاتو اقامه کول، د معروفاتو له اقامې او منکراتو له ازالې څخه څارنه کول، د لمانځه اهتمام او د اړوند چارو وړاندې کول، د شکایتونو اورېدل او د حل په موخه یې لازم ا جراآت ترسره کول او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو تطبیق او نظارت کول، شامل دي. د دعوت او ارشاد آمریت په خپل تشکیل کې د دعوت او ارشاد مبلغ هم لري، چې د پورتنیو چارو په ترسره کولو له آمریت سره مرسته کوي.

### ۳- د احصائیې او پلان عمومي مدیریت

د احصائیې او پلان عمومي میریت د ۱۴۴۴ کال په تشکیل کي ایجاد شوی، چې په مستقیمه توگه د پوهنتون له ریاست سره د پلانونو او پالیسو په جوړولو کې کار کوي، د دغه مدیریت په مهمو دندو کې د استادانو، کارمندانو او محصلانو د احصائیو ترتیبول، د منفک، تأجیل او بدل اعاشه محصلانو کلني راپوروونه جوړول او د لوړو زده کړو وزارت او ولایت مقام سره د هغو شریکول، شامل دي.

پر دې سربېره د علمي، محصلانو او مالي  اداري معاونیتونو د راپورونو په اساس د دغې مؤسسې ربعوار او کلني توحیدي راپوروونه جوړول او له اړوندو مقاماتو سره د هغو شریکول هم د دغه مدیریت په دندو کې راځي.



چاپېریال نه یوازې د زده‌کړې لپاره مناسب فضا برابروي،
بلکې د ذهني آرامتیا او طبیعي ښکلا احساس هم ورکوي.

# د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د رياست تشکيل

- د دفتر عمومي مديريت
  - د اسنادو، اړيکو او آرشيف مديريت
- د احصائيې او پلان عمومي مديريت
- معاونيتونه
  - د علمي او محصلانو چارو معاونيت
  - د مالي او اداري چارو معاونيت
- د پوهنځيو رياستونه
  - د کرنې پوهنځی
  - د ښوونې او روزنې پوهنځی
  - د کمپيوټر ساينس پوهنځی
  - د شرعياتو پوهنځی
  - د اقتصاد پوهنځی
- د ارشاد او دعوت آمريت
  - مبلغ (مؤذن)

## د مؤسسې شوراګانې او عمومي کمېټې

### ۱- رهبري شورا

رهبري شورا د مؤسسې په کچه يو له هغو مهمو شوراګانو څخه ده، چې د دغې مؤسسې له جوړښت سره سم يې په فعالیت پیل کړی دی، د دغې شورا مشري د مؤسسې رئیس کوي، مرستیالان، د پوهنځیو رئیسان او مستقل آمرین يې غړيتوب لري. رهبري شورا د مؤسسې په کچه د يو لړ مهمو موضوعاتو په اړه د مشورو او تصميم نيونې يو باصلاحيته مرجع ده، چې په اوونۍ کې يوځلې د مؤسسې د رئيس په مشرۍ غونډه کوي. په دغه اوونيزو غونډو کې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د ورځنيو چارو، ساختماني چارو، درسي بهير، اداري بهير او څېړنيزو چارو څخه د څارنې او تعقيب په موخه غونډې او مشورې کوي، پر دې سربېره دغه شورا په ټولو برخو کې د ستونزو او مشکلاتو د حل په موخه يوه مشورتي مجلس دی، چې د ستونزو او پرمختګونو په اړه سپارښتنې، سلاو او مشورې ترسره کوي.

### ۲- علمي شورا

علمي شورا د مؤسسې په کچه د پرېکړو او تصميم نيونې په برخه کې تر ټولو باصلاحيته شورى ده، چې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د (۳۰۷/۱۸۷) ګڼې او (۱۴۴۴/۹/۲۷) وړانديز او د لوړو زده کړو وزارت د ګڼې(۷۸۳۲) او (۱۴۴۴/۱۰/۱۱) نېټې حکم په اساس رامنځته شوې ده. دغه شورا د مؤسسې د ټولو برخو: ديپارټمنټونو، پوهنځيو، کمېټو، د پاليسيو او لارښودونو او نورو ټولو علمي مسائلو په اړه د پرېکړې او تصميم نيونې صلاحيت لري.

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې علمي شوراوې د دغې مؤسسې د رئيس په مشرۍ جوړېږي، د علمي او محصلانو چارو مرستيال د يادې شورا مرستيال او د استادانو آمر يې منشي توب کوي. د مالي او اداري چارو مرستيال، د پوهنځيو رئيسان، د کيفيت لوړاوي آمر، د څېړنو او علمي مجلې آمر او د ديپارټمنټونو آمرين يې اعضاء دي. علمي شورا د لاندې واکونو درلودونکې ده:

- د تحصيلي مؤسسې د مرستيالانو د ټاکلو په اړه، د لوړو زده کړو د مؤسسې د رئيس وړانديز.
- د اړوندې مؤسسې د لوړو زده کړو  او علمي څېړنو د پاليسۍ طرح او ترتيب او واکمنو مراجعو ته د هغو وړانديز.
- د درسي پلانونو او علمي- څېړنيزو برنامو تدوين او ارزونه.
- د پرمختيايي پلانونو طرح او وړانديز
- د زده کړه ييزو پلانونو او برنامو له تطبيق څخه څارنه.
- د پوهنځيو او ديپارټمنټونو د تأسيس، پراختيا، تجزيې، الحاق ادغام او يا الغاء کتنه او وړانديز.
- د تفاهم ليکونو او د توأميت د قراردادونو د عقد، تعديل، تمديد يا فسخ وړانديز.

- د علمي کادر د غړي د ګمارنې یا انفکاک د وړاندیز په هکله د تصمیم نیول.
- د اړوندو پوهنځیو د اکاډمیکو فعالیتونو ارزونه او د لوړو زده کړو وزارت ته یې د رپوټ وړاندې کول.
- د مرستیالیو، مرکزي کتابتون، د معلوماتي تکنالوژۍ د مرکز، د څېړنو او علمي مجلې آمرۍ او د کیفیت لوړاوي آمریت او په دې برخه کې د ښه والي د لارو چارو د لټولو د فعالیتونو ارزونه.
- د اختصاصي کمېټو جوړول او هغو ته د ځینو واکونو سپارل.
- د لایحو د طرح او تعدیل وړاندیز او د اړوندو کړنلارو تصویبول.
- په اړوندو تقنیني سندونو کې د درج شوو، نورو دندو سر ته رسول.

### ۳- اداري شورا

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې له درې ګونو شوراګانو څخه دریمه شورا د اداري شورا په نامه یادیږي. د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په کچه دغه شورا په ۱۴۰۲هـ.ل کال کې رامنځته شوه، دغه شورا د پوهنتون په کچه د سالمې حکومتولۍ، ښه مدیریت، د پوهنتون له شتمنیو څخه سمه ساتنه او پالنه، په علمي برخه کې د تدریس او تحقیق په چارو کې د لا ډېرو سهولتونو رامنځته کول او په اداري برخو کې د ستونزوې هوارولو او خنډونو له منځه وړلو په تړاو سلامشورې کوي. دغه شورا هم  په میاشت کې یو ځلې د مؤسسې د رئیس په مشرۍ خپلې غونډې ترسره کوی، چې د مؤسسې مرستیالان، د پوهنځیو رئیسان، آمرین او د اداري برخې مدیران په کې ګډون کوي. په دغه شورا کې ډېرې پر اداري موضوعاتو باندې بحثونه او لارښوونې ترسره کیږي.

### ۴- د کیفیت لوړاوي کمېټه

د کیفیت لوړاوي عمومي کمېټه په ۱۳۹۹ کال کې د کیفیت لوړاوي آمریت له ایجاد سره سمه رامنځته شوه، چې د مؤسسې په کچه په ټولو برخو کې د چارو د لا ښه سمون او کیفیت لوړاوي په برخه کې فعالیت کوي. دغه کمېټه د ټاکل شوو معیارونو پر بنسټ د مؤسسې د ټولو برخو څارنه او ارزونه ترسره کوي. د دغې کمېټې په مهمو دندو کې د مؤسسې په ټولو برخو کې د کیفیت ښه والی رامنځته کول، د پوهنتون د اعتبار ورکوونې پروسې، زده کړه ییزو برنامو او نورو فعالیتونو څخه نظارت کول. د پوهنتون په سطحه  د کیفیت لوړاوي برنامو له تطبیق څخه څارنه کول، د پوهنتون، پوهنځیو او دیپارټمنتونو په کچه ځاني ارزونه ترسره کول. د علمي برنامو دوره‌یي کتنه (PPR) ترسره کول، د پوهنتون په کچه کلنی نظارت (APR) ترسره کول، د کتابتون او لابراتورونو له تجهیز او ګټې اخیستنې څخه څارنه کول، د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د جوړو شویو کمېټو د کړنو ارزیابي کول او بلآخره په ټولو برخو کې د فیډبکونو چمتو کول او د هغو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول. د کیفیت لوړاوي په برخه کې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې لومړی مرحله په بریالیتوب سره ترسره کړې او د دوهمې مرحلې لپاره یې بشپړ چمتووالی اعلان کړی دی.

## ۵- د پلان او پالیسۍ کمېټه:

د پلان او پالیسۍ کمېټه د مؤسسې په کچه د پلانونو او پالیسو جوړولو په برخه کې کار کوي، د دغې کمېټې په مهمو دندو کې د مؤسسې لپاره د ستراتیژیک پلان جوړول، د ستراتیژیک پلان د جوړولو په اړه سمینارونو او ورکشاپونه جوړول، د ستراتیژیک پلان لپاره د تطبیقي پلان جوړول او د هغو له تطبیق څخه نظارت کول، د پوهنځیو او دیپارټمنتونو د ستراتیژیک پلانونو کتل، د پوهنتون په کچه د نورو کمېټو لپاره د پالیسیو او کړنلارو کتل او نهایي کول، شامل دي.

## ٦- د څېړنو او علمي مجلې کمېټه:

د څېړنو عمومي کمېټه د پوهنتون په کچه د معیاري څېړنیزو فعالیتونو د ترویجولو او تنظیمولو په برخه کې فعالیت کوي، د دغې کمېټې په مهمو دندو کې د څېړنیزو اړتیاوو سنجول، د څېړنیزو مقالو کتل، له بنکېلو اړخونو سره د څېړنو د پایلو شریکول، د څېړنې د روشونو په اړه سمینارونه او ورکشاپونه جوړول، د څېړنیزو چارو کلنی پلان جوړول، د علمي کارد غړو ته څېړنیزو کنفرانسونو دائرول، د علمي مجلې لپاره له حقوقي، اخلاقي، مسلکي او میتودلوژیکي اړخه د علمي مقالو کتنه، شامل دي.




## ۷- د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو کمېټه:

د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو عمومي کمېټه د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو اړوند چارې پرمخ وړي، د دغې کمېټې په مهمو او اساسي دندو کې د پوهنځیو په کچه د تشو بستونو تشخیصول، د علمي کادر غړو د جذب لایحې مطابق د تشو بستونو اعلان او هغو ته د وړ نوماندانو شارټ لیست کول، د استادانو د تقرر د اسنادو او شواهدو برابرول، د ترفیعاتو په موخه علمي شورا ته د استادانو د دوسیو برابرول او نورې اړوندې چارې شاملې دي.

### ۸- د برېښنايي زده کړو کمېټه:

د برېښنايي زده کړو کمېټه د زده کړو د عصري کولو، ډیجیټلي وسایلو د کارونې، محصلانو ته د انلاین تدریس او کورسونو جوړولو په برخه کې فعالیت کوي. د دغې کمېټې په مهمو دندو کې د الکترونیکي زده کړو د کیفیت لوړول، د پوهنتون د اداري چارو ډیجیټلي کول او محصلانو ته د سیمې په کچه د نړیوالو معیارونو سره سم د آنلاین زده کړو زمینه برابرول، د زده کوونکو، استادانو، او اداري کارمندانو ترمنځ د برېښنايي زده کړو په اړه د پوهاوي رامنځته کول او د ډیجیټلي وسایلو ګټې روښانه کول، د پوهنتون اداري پروسو ډیجیټلي کول ترڅو شفافیت، چټکتیا، او د وخت سپما رامنځته شي.




### ۹- د ظرفیت لوړونې کمېټه:

د ظرفیت لوړونې عمومي کمېټه د اړتیاوو پر بنسټ د مؤسسې د ټولو کادري او اداري کارمندانو د ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې فعالیت کوي، د دغې کمېټې په مهمو دندو کې د استادانو، کارمندانو او محصلانو د ظرفیتونو لوړولو په موخه اړتیا سنجونه، د اړتیاوو پر بنسټ د ورکشاپونو او سمینارونو لپاره د ټرېنرانو ټاکنه، د ورکشاپونو او سمینارونو لپاره د درسي موادو چمتو کول او په مناسب وخت کې دري واړو برخو ته د سمینارونو، ورکشاپونو او ټرېنینګونه جوړول، شامل دي.

### ۱۰- د فرهنګي چارو او نشراتو کمېټه:

د فرهنګي چارو او نشراتو کمېټه د پوهنتون په کچه ټولې فرهنګي او نشراتي چارې تنظیموي، د ملي او اکاډمیکو ورځو او همدارنګه د ملي او اکاډمیکو اشخاصو نمانځغونډې دائرول، د محصلینو فرهنګي کمېټه رامنځته کول او له هغوی سره په ګډه کار کول، د پوهنتون لرلید، ماموریت، اهداف او تاریخچه د کتلاک، بنر او بروشر په بڼه ترتیبول او خپرول، د پوهنتون د لاسته راوړونو او پرمختګونو په اړه د راپوروونو جوړول او خپرول، د استادانو،

# د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د لوړو زده کړو وزارت له اصولو سره سم د هېواد په کچه د لوړو زده کړو بنسټونه په پيل کې د مؤسساتو تر سرليک لاندې په فعاليت پيل کوي او بيا وروسته د يو لړ معيارونو له پوره کولو وروسته د پوهنتون کچې ته ارتقاء کوي. دا چې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه تر دې مهاله د ايجاد په لومړنيو پړاوونه کې ده، له همدې امله د مؤسسې په نوم يادېږي او لا يې د پوهنتون کچې ته ارتقاء نه ده کړې. د لوړو زده کړو د مؤسسې او پوهنتون تر منځ يو توپير دا دی، چې د مؤسساتو په کچه يوازې دوه معاونيتونه فعاليت کوي، چې يو يې د علمي او محصلانو چارو معاونيت دی او بل يې د مالي او اداري چارو معاونيت. د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په کچه د علمي او محصلانو چارو معاونيت د ۱۳۹۷ کال په تشکيل کې منظور شوی، چې له هغه را وروسته هر کال د دغه معاونيت په تشکيلاتو کې زياتوالی راغلی دی. د علمي او محصلانو چارو معاونيت که څه هم تر يوه سرليک لاندې فعاليت کوي، خو د مؤسسې په کچه د دريو لويو برخو: د علمي چارو، د محصلانو چارو او څېړنيزو چارو د سمون او مديريت چارې پر غاړه لري، له همدې امله ياد معاونيت د تدريس، تحقيق او محصلانو په برخه کې د پوهنتون ټولې چارې په خپله لمنه کې رانغاړي. د علمي او محصلانو چارو معاونيت تر چتر لاندې پنځه آمريتونه او ۷ عمومي مديريتونه کار کوي. د علمي او محصلانو چارو د معاونيت په مهم او اساسي دندو کې لاندې موارد شاملې دي:

1. د پوهنتون/ مؤسسې په کچه د تدرسي چارو د معياري کولو په موخه د استادانو لپاره د تحصيلي، ښوونيزو او څېړنيزو پاليسيو طرح کول.
2. د پوهنتون/ مؤسسې اړوندو د ټولو پوهنځيو د درسي پروګرامونو او پلانونو څارنه او لارښوونه.
3. د استادانو د ګمارنې، انفکاک، ودې، پراختيا او علمي ترفيعاتو د اړوند چارو څارنه او لارښوونه.
4. له نړيوالو معيارونو سره سم د محصلانو د ګټې اخيستنې په موخه د کتابتون او ټولو پوهنځيو لپاره د درسي موادو او کتابونو له تيارولو څخه څارنه او کنټرول ترسره کول.
5. د تحصيلي کچې د ودې او پراختيا لپاره تر ليسانس د پورته برنامو (ماستري او دوکتورا) لپاره د پاليسيو جوړول.
6. په پوهنځيو کې د تدريسي پلانونو د تطبيق په موخه د استادانو د نظري او عملي تدريس له پروسې څارنه کول.
7. د استادانو د ارتقا او ترفيع په موخه د علمي کنفرانسونو د چارو څارنه او لارښوونه.
8. پر وخت سره د چارو ترسره کولو په موخه د مؤسسې د رئيس په نشتون کې د علمي شورا مشري کول.
9. د پوهنتون/ مؤسسې ټاکل شوو موخو ته د رسېدو لپاره د پوهنتون له عمومي پلان سره سم د مياشتنيو، ربعوارو او کلنيو کاري پلانونو جوړول.
10. په اکاډميکو چارو پورې د اړوندو موخو د ترلاسه کېدو لپاره د قوانينو، مقرراتو، لوايحو او مصوبو له پلي کېدو څخه څارنه کول.

محصلینو او نورو لیکوالانو معیاري څېړني او لیکنې خپرول، نوو جذب شوو محصلانو ته د فرهنګي غونډو ترتیبول، د کنفرانسونو، ښه راغلاست غونډو، نمانځغونډو، فراغت غونډو او داسې نورو چارې تنظیمول، د پوهنتون له ویب سایټ څخه څارنه کول، د پوهنتون د ټولنیزو پاڼو جوړول او پرمخ بېول، د پوهنځیو په کچه د فرهنګي چارو او نشراتو کمېټې جوړول او د هغو له چارو څخه څارنه کول شامل دي.

### ۱۱- د ازموینې کمېټه

د ازموینو عمومي کمېټه د کرېډېټ سیستم له لایحې سره سم د پوهنتون په کچه د ټولو پوهنځیو د محصلانو د حاضرۍ راپورونه ارزوي او د ازموینې له لایحې سره سم د ازموینو له بهیر څخه څارنه کوي، د دغې کمېټې په مهمو او اساسي دندو کې د لوړو زده کړو وزارت له پرېکړو سره سم د ازموینې وخت او ځای په اړه تصمیم نیول، د محصلانو د حاضرۍ نصاب کتل، محروم او غائبو محصلانو تشخیصول، د ازموینې د صحنو له نظم څخه څارنه کول، د ازموینو د صحنو د تنظیم میکانېزم جوړول، د ازموینې له لایحې سره سم د پوښتنو له څرنګوالي ډاډ تر لاسه کول، شکایتونو ته د درېو کاري ورځو په بهیر کې رسیدګي کول، د هر سمستر په پای کې د ازموینو د راپور چمتو کول او د پوهنځیو په کچه د اړوند کمېټو له چارو څخه څارنه کول، شامل دي.



### ۱۲- د محصلانو د همغږۍ او سپورټ کمېټه:

د محصلانو د همغږۍ او سپورت کمېټه د مؤسسې په کچه د ټولو محصلانو لپاره په علمي، دیني، کلتوري او سپورتي برخو کې د علمي سمینارونو، علمي سفرونو، سپورتي لوبو او فرهنګي غونډو د جوړولو په برخه کې فعالیت کوي. د دغې کمېټې په مهمو دندو کې محصلانو ته د اکاډمیک چاپېریال ورپېژندل او په دې برخه کې له موجود آسانتیاوو سره د هغوی آشنا کول، محصلانو ته په رواني او روغتیایي برخو کې خدمات وړاندې کول، په دیني، علمي، کلتوري برخو کې د پروګرامونو جوړول، د پوهنځیو په کچه د علمي او سپورتي سیالیو جوړول او مختلفو علمي مرکزونو او تاریخي سیمو ته د هغوی د علمي سفرونو تنظیمول شامل دي.



### ۱۳- د دعوت او ارشاد کمېټه

د دعوت او ارشاد کمېټه د مؤسسې په کچه د استادانو، کارمندانو او محصلانو د ديني پوهې د لوړاوي په موخه په علمي او ديني برخو کې د سمينارونو جوړلو، بېلابېلو درسي حلقو، عقيدتي درسونو او فرهنګي انجمنونو د جوړولو په برخه کې فعاليت کوي. د دغې کمېټې په مهمو او اساسي دندونو کې د منکراتو له منځه وړل، د معروفاتو اقامه، د لمانځه پر اهتمام نظارت کول او په دې برخه کې د اړوندو مسائلو بيان او د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو له تطبيق او عملي کولو څخه نظارت کول شامل دي.

### ۱۴- د نظم، دسپلين او شکايتونو د اورېدو کمېټه:

د نظم، دسپلين او شکايتونو د اورېدو کمېټه د پوهنتون د داخلي نظم او همدارنګه د استادانو، کارمندانو او محصلانو د شکايتونو د حل په برخه کې يوه مهمه کمېټه ده، چې د ټاکل شوو پاليسو له مخې د پوهنتون په کچه د داخلي نظم ساتلو، قوانينو د تطبيق او شکايتونو د منصفانه حل په موخه فعاليت کوي. د دغې کمېټې په مهمو او اساسي دندو کې د نظم او دسپلين رعايتولو په موخه د پاليسو جوړول او تطبيقول، د شکايتونو اخيستل، د هغو درجه بندي او څېړل او په دې اړوند د پرېکړو اعلانول، د نظم او دسلپين په موخه د پوهنتون په کچه د ځينو احتياطي تدابيرو نيول، د نظم او دسپلين په اړه محصلانو ته عامه پوهاوی ورکول، د حقايقو په بربنسټ عادلانه تصاميم نيول، شامل دي.

### ۱۵- د مالي او اداري چارو کمېټه:

دغه کمېټه د مالي او اداري چارو د معاونيت تر چتر لاندې په مالي او اداري برخو کې د مرستندويه کمېټې په توګه کار کوي. د دغې کمېټې په مهمو فعاليتونو کې د کلنيو او ربعوارو مالي پلانونو جوړول، د مؤسسې کادري او اداري کارمندانو ته د کلنۍ بودجې معرفی کول، د کلنۍ بودجې مطابق د کلني مالي پلان جوړول، په بېلابېلو برخو کې د اړتياوو سنجول، د اداري پراختيا تشکيلاتي طرحې جوړول، د بېلابېلو پروژو لپاره د پروپوزلونو چمتوکول، راپورونو جوړول او حساب ورکول شامل دي.

### ۱۶- د نصاب عمومي کمېټه

د نصاب عمومي کمېټه د مؤسسې په کچه د نصابونو د کتنې، پلي کولو او ارزونې دنده پر غاړه لري، د دغې کمېټې په مهمو دندو کې د تحصيلي نصابونو بيا کتنه او له اړتيا سره سم يې د ځواکمنو او کمزورو نکاتو پيدا کول، شامل دي، پر دې سربېره په مستنده توګه د نصابونو نوي کول او په دې اړوند د کارپوهانو نظريات اخيستل، د درسي مضامينو او مفرداتو د ټاکنې په موخه په کاري بازار کې د اړتيا سنجول او په دې برخه کې د ټولنې د غوښتنو او اړتياوو د معلومولو په موخه د پوښتنپاڼو ترتيب، تثبيت او شننه، د نورو پوهنتونونو له تحصيلي نصابونو سره د موجوده تحصيلي پرتله کول او د تحصيلي نصاب له مفرداتو سره د استادانو د درسي کتابونو، لکچرنوټونو، سلايډونو او نورو درسي مواد پرتله کول هم د دغې کمېټې په دندو کې راځي.

**۱۷- د چاپېریال ساتنې او نشه‌يي توکو په وړاندې د مبارزې کمېټه**

د چاپېریال ساتنې او نشه‌يي توکو په وړاندې د مبارزې کمېټه د مؤسسې په کچه د چاپېریال پاک ساتلو، زرغونتیا او نشه‌يي توکو په وړاندې د مبارزې په برخه کې فعالیت کوي. د دغې کمېټې په مهمو دندو کې د چاپېریال ساتنې کلنی پلان جوړول، د چاپېریال ساتنې او نشه‌يي توکو په وړاندې د مبارزې په برخه کې د پروګرامونو او علمي سمینارونو جوړول، د چاپېریال زرغونتیا او کېنول شوو نیالګیو د ساتنې او پالنې لپاره مشورتي غونډې او مجلسونه جوړول، د چاپېریال ساتنې فرهنګ ته وده ورکول، د مؤسسې د ښکلا او رزغونتیا په برخه کې د ستونزو د هواري په موخه د حل لارو وړاندې کول، شامل دي.

**۱۸- د فساد په وړاندې د مبارزې کمېټه**

د فساد په وړاندې د مبارزې کمېټه په ټولو کادري او اداري برخو کې د هر ډول فساد د مخنیوي په برخه کې فعالیت کوي. دغه کمېټه د فساد د مخنیوي په برخه کې استادانو، اداري او خدماتي کارکوونکو او محصلینو ته عامه پوهاوی ورکوي او هڅه کوي، چې د هر ډول فساد په وړاندې شکونه او شکایتونه وڅېړي.

**۱۹- د بهرنیو اړیکو کمېټه**

د بهرنیو اړیکو کمېټه له مؤسسې څخه بهر له نورو ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو سره د همغږۍ او اړیکو دنده پرغاړه لري. د دغې کمېټې په اساسي دندو کې د مؤسسې د پرمختګ په موخه له ملي سوداګرو او خیریه بنسټونو د مرستو جلبول او د هېواد، ولایت او مؤسسې په کچه د بېړنیو حالاتو پرمهال د مؤسسې له مشرتابه سره په همغږۍ اړین تدابیر نیول، له نورو پوهنتونونو/ مؤسسو، دولتي او غیر دولتي ادارو سره د تواُمیتونو لاسلیکول او د هغو پر تطبیق باندې څارنه کول، شامل دي.

11. پلان شوو اهدافو ته د رسېدو په موخه د تر لاس لاندې کارمندانو مشري او مدیریت ترسره کول.
12. د وروستیو پرېکړو او د کاري ورتیاوو د لوړوني په موخه د اړوندو کارمندانو کنټرول او ارزونه ترسره کول.
13. د نورو ټولو هغو دندو ترسره کول، چې د مقاماتو له لوري د قوانینو، مقرراتو او د مؤسسې له اهدافو سره سم سپارل کیږي.
14. اړتیا او موقع ته په کتو سره له ټولو اړوندو ادارو او څانګو سره همغږي رامنځته کول.
15. د ټاکل شوو معیارونو د پلي کېدو په موخه د محصلانو چارو اړوندې پالیسۍ طرح کول.
16. محصلانو ته د هویت کارتونو، ډیپلومونو او ترانسکرپټونو د وېش او ازموینو له بهیر او پایلو څخه څارنه او نظارت کول.
17. د محصلانو د شمولیت او فراغت اسنادو د ساتنې له چارو څخه څارنه او کنټرول ترسره کول.
18. په پوهنځیو او لیلیو کې د شمولیت او د بدل اعاشې چارو د ترسراوي په موخه څارنه کول.
19. د محصلانو په تأجیل او تبدیلۍ پورې د اړوندو چارو له څرنګوالي څخه نظارت کول.
20. محصلانو ته پر ټاکلي وخت د تدریس په موخه د ټولګیو د ټاکنې له چارو څارنه او کنټرول ترسره کول.
21. د درسونو د پیل او ازموینو د اخیستو په موخه د مهال وېشونو د ترتیب او تطبیق له چارو څخه کنټرول او څارنه کول.
22. دولتي او خصوصي مؤسساتو ته د فارغانو د معرفي کولو په موخه د محصلانو د فراغت او نتایجو د جدولونو له جوړولو څخه څارنه او کنټرول ترسره کول.
23. د محصلانو له ټولنیزو او ورزشي کړنو څخه څارنه او لارښوونه کول.
24. د ممتازو محصلینو په کمېټه کې ونډه اخیستل او د بهرنیو هېوادونو، تحصیلي برنامو ته د محصلینو وروپېژندنې په موخه د هغوی سیستماتیکه لارښوونه.
25. په اړوندو پوهنځیو کې د محصلانو د علمي کنفرانسونو او سمینارونو جوړول او په دولتي ازموینو کې د فارغو محصلانو له ازموینو څخه څارنه کول.
26. ټاکل شوو موخو ته د رسېدو په پار د پوهنتون له عمومي پلان سره سم د میاشتنیو، ربعوارو او کلنیو کاري پلانونو جوړول.
27. د هېواد له نافذه قوانینو سره سم په اړوند وزارت کې له خپلو کړنو څخه راپور ورکول او د شفافیت ټینګښت.
28. تر لاس لاندې کارمندانو ته د ورکشاپونو، سمینارونو او کاري بهیر له لارې د مسلکي وړتیاوو لېږدول.
29. د مؤسسې د کلني کاري پلان پر بنسټ د بودجوي اړتیاوو تشخیص او وړاندېز کول.
30. د تر لاس لاندې کارمندانو مشري، مدیریت او ارزونه ترسره کول، د هغوی لپاره د ښوونیزو اړتیاوو سنجول او د ظرفیتونو لوړول.

31. د اړوندې برخې له کړنو څخه د میاشتنیو، ربعوارو او کلنیو راپوروونو وړاندې کول او د اړتیا پرمهال له مهمو کړنو او لاسته راوړنو څخه د مشرتابه د خبراوي په موخه د راپوروونو وړاندې کول.

32. د نورو هغو دندو ترسره کول، چې د اړوندو چارواکو له لوري د وزارت له پالیسۍ سره سمې سپارل کیږي.

33. اړتیا او موقع ته په کتو سره له ټولو ذیربطو ادارو او څانګو سره همغږي رامنځته کول.

34. د محصلانو د ټولنیزو فعالیتونو د ښه والي په موخه د مؤسسې له فرهنګي شورا ملاتړ او لارښوونه کول.

**د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د محصل/ استاد، محصل/ اداري کارکوونکو، محصل/ خدماتي کارکوونکو نسبتونه**




| | 1 |
|---|---|
| د استادانو شمېر | 62 |
| د محصلینو شمېر | 1372 |
| د محصل پر استاد نسبت | 22.1 |
| د محصل پر اداري کارکوونکي نسبت | 27.44 |
| د محصل پر خدماتي کارکوونکو نسبت | 36.1 |

**د علمي او محصلانو چارو د معاونیت اړوند آمریتونه**

**۱- د استادانو د ګمارنې او علمي ترفیعاتو آمریت**

د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو آمریت په ۱۴۰۲هـ.ل کال کې د علمي او محصلانو چارو معاونیت تر چتر لاندې منظور او ایجاد شو. د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو آمریت د یادې مؤسسې د اکاډمیکو غړو د تقرر او علمي ترفیعاتو چارې پر مخ وړي. د پوهنځیو او دیپارتمنتونو په کچه د اکاډمیکو بستونو اړتیا سنجول او لوړو زده کړو وزارت ته د کادري تشکیل طرحه وړاندې کول، د آزادې سیالۍ په موخه د تشو بستونو اعلانول، د علمي کادر غړو د جذب له لایحې سره سم د وړ او مستعدو کادرونو شارټ لیست او د ګمارنې په موخه یې کادري ازموینې ته معرفي کول، د استادانو د ګمارنې او علمي ترفیعاتو چارې تنظیمول، د علمي پیاوړتیا په موخه ملي او نړیوالو سمینارونو او کنفرانسونو ته د استادانو معرفي کول، د دغه آمریت له مهمو دندو څخه شمېرل کیږي.




### ۲- د څېړنو او علمي مجلې آمریت لنډه پېژندنه

د څېړنې او علمي مجلې آمریت په ۱۴۰۲هـ.ل کال کې د علمي او محصلانو چارو معاونیت تر چتر لاندې منظور شوی. په ټولیزه توګه د پوهنتون په کچه ټولې علمي څېړنې د دغه آمریت تر څار او لارښوونې لاندې ترسره کېږي. د دغه آمریت اصلي موخه د علمي کادر غړو او محصلینو د څېړنیزو وړتیاوو لوړول، د څېړنیزو میتودونو او روشونو په اړه سمینارونه جوړول، د څېړنیزو پروژو د تطبیق په موخه اړین امکانات رامنځته کول، له ملي او نړیوالو معیارونو سره سمې څېړنې رایجول، په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې د علمي او څېړنیزو مقالو خپرول او د علمي څېړنو د ترسره کولو په موخه د اړینو مالي سرچینو برابرول، د دغه آمریت له مهمو موخو څخه ګڼل کېږي. د دغه آمریت تر چتر لاندې د علمي مجلې عمومي مدیریت هم شتون لري، چې د «وردګ علمي ـ څېړنیز ژورنال» د خپرولو چارې تنظیموي. د طبیعي علومو په برخه کې دغه څېړنیز ژورنال ته په ۱۴۰۲ کال کې د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست له لوري د یو کال لپاره ازمیښتي جواز ورکړل شو، خو د ۱۴۰۳ کال په اوږدو کې یاد ریاست د «وردګ ـ علمي څېړنیز ژورنال» د خپراوي چارې غوره او مثبتې ارزیابي کړې او له دې سره یې ورته د دائمي فعالیت جواز هم ورکړ.



انځور ٦: د وردګ علمي ـ څېړنیز ژورنال انځورونه

### ۳- د کیفیت لوړاوي آمریت

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کیفیت د تضمین آمریت په ۱۳۹۹ هجري شمسي کال کې په غیر رسمي ډول په فعالیت پیل وکړ او له دې سره یو ځای د کیفیت لوړاوي کمېټه هم جوړه شوه، د همدې فعالیت په پایله کې د کیفیت لوړاوي پروسه پیل شوه، په ۱۴۰۱ کال کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا د کیفیت لوړاوي آمریت په رسمي ډول د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې په تشکیل کې ایجاد شو او اوس مهال د عمومي آمر تر څنګ د کیفیت لوړاوي د عمومي مدیریت بست هم ورکړل شوی. د دې آمریت ورځنۍ کارونه د دندو د لایحې مطابق په لاندې ډول دي: د پوهنتون د رئیس، معاونینو او د پوهنځیو د رئیسانو سره په مشوره د پوهنځیو د علمي او تدریسي چارو کنټرول او نظارت؛ د ځان ارزونې او د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې له نورو کړنو د تطبیق له برنامو څخه نظارت؛ اړونده برخو ته د اجراآتو په موخه د کیفیت لوړاوي کمیټې د مکتوبونو او پریکړو استول او نورې هغه دندې ترسره کول چې د کیفیت لوړاوي په برخه کې د مربوطه آمر له لوري ورته سپارل کیږي. د کیفیت لوړاوي آمریت چارې د نهو غړو (له هر پوهنځي څخه د یو یو استازي په همکارۍ سره) ترسره کېږي.




### ۴- د استادانو د مسلکی پراختیا آمریت

د علمي کادر غړو د مسلکي پراختیا آمریت(Professional Development Cent) په ۱۴۰۱ کال کې ایجاد شوی دی، چې د استادانو او کارمندانو د مسلکي وړتیاوو د زیاتولو لپاره فعالیت کوي. دغه مرکز د علمي کادر غړو او کارمندانو ته په بېلابېلو برخو کې د وړتیا لوړولو په موخه روزنیز کورسونه، سمینارونه، ورکشاپونه او نور پروګرامونه په لاره اچوي. د نوې ټکنالوژۍ په رڼا کې د څېړنیزو او تدریسي میتودونو په برخه کې د علمي کادر د مهارتونو لوړول، د نړیوالو پرمختللو معیارونو پر بنسټ د روزنیزو برنامو او ورکشاپونو جوړول، د مدیریت او رهبرۍ په برخه

کې د علمي کادر د غړو ظرفیتونه لوړول، په علمي او تخنیکي برخو کې د لازمو مسلکي پرمختګونو په اړه بحث او وده رامنځته کول، د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړول د دغه مرکز له مهمو موخو څخه ګڼل کیږي. یاد مرکز په خپل تشکیل کې یو مسؤل شخص (آمر)، یو اداري کارکوونکی (عمومي مدیر) او یو مشورتي بورډ لري، چې له اړتیا سره سم د ورتیاوو د زیاتولو پروګرامونه په لاره اچوي.




**۵- د محصلانو چارو آمریت**

د محصلانو چارو آمریت د لومړي ځل لپاره په ۱۴۰۲ کال کې ایجاد شوی دی، چې د محصلانو د چارو د تنظیم په برخه کې فعالیت کوي. د دغه آمریت په مهمو دندو کې د محصلانو له ډېټابس (HEMIS) څارنه او کنترول، د تحصیلي اسنادو (ډیپلوم او ترانسکرپټ) د ویش له پروسې څخه څارنه، د محصلینو د شمولیت، منفکی، تأجیل، تبدیلی، رفع تأجیل او بیا شمولیت له پروسو څخه څارنه کول، د محصلینو د سمستر وار نتایجو د راټولو له پروسې څخه څارنه کول، د محصلانو ته د پېژندنې کارتونه ورکول، شامل دي. د محصلانو چارو د آمریت تر چتر لاندې درې مدیریتونه فعالیت کوي:

۱- د محصلینو چارو عمومي مدیریت چې په ۱۳۹۷هـ ش کال کې ایجاد شوی دی، د دغه مدیریت له مهمو دندو څخه د محصلانو د شمولیت، بیا شمولیت، تبدیلي او منفکې چارې ترسره کول دي.

۲- د فاغانو چارو عمومي مدیریت چې په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې ایجاد شوی او اصلي دنده یې داده، چې فارغو شوو محصلانو ته خپل تحصیلي اسناد سپاري.

۳- د تحصیلي اسنادو چمتوکولو مدیریت په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې ایجاد شوی، د دغه مدیریت یوه مهمه دنده داده، چې فارغو شوو محصلانو ته تحصیلي اسناد چمتو کوي.



| | کرنه | | ښوونه او روزنه | | | | کمپیوټر ساینس | | شرعیات | | اقتصاد | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اګرانومي | هارټيکلچر | رياضی | فزيک | بيولوژي | کيميا | معلوماتي سيستمونه | د شبکې انجينري | فقه او قانون | اسلامي تعليمات | اداره او سوداګری | ملي اقتصاد | ديپارټمنتونه |
| تبديل | 6 | 4 | 5 | 0 | 3 | 3 | 0 | 0 | 4 | 3 | 0 | 1 | 29 |
| تأجيل | 15 | 18 | 11 | 10 | 1 | 0 | 7 | 9 | 7 | 2 | 2 | 2 | 84 |
| شامل | 178 | 181 | 135 | 152 | 48 | 0 | 194 | 180 | 102 | 100 | 53 | 49 | 1372 |
| بريالي | 196 | 200 | 152 | 163 | 49 | 3 | 206 | 195 | 108 | 104 | 55 | 52 | 1483 |

بريالي ■ شامل ■ تأجيل ■ تبديل ■

### ٦- د محصلانو د خدمتونو او همغږۍ عمومي مديريت

د محصلانو چارو د خدمتونو او همغږۍ مديريت په ۱۴۰۳ کال کې د علمي او محصلانو چارو معاونيت تر چتر لاندې ايجاد شو. د دغه عمومي مديريت مديريت په اساسي دندو کې له اکاډميک چاپېريال او د مؤسسې له تحصيلي شرايطو او امکاناتو سره د محصلانو آشنا کول، محصلانو ته د ديني، فرهنګي، علمي او ورزشي برنامو او علمي سمينارونو او سفرونو تنظيمول، د نوښتګرو محصلانو پېژندل او د هغوی د لاپرمختګ په موخه زمينه مساعدول، محصلانو ته د کارموندنې په برخه کې د هغوی وړتياوې لوړول، په ليليو کې د محصلانو د اوسېدنې له شرايطو څخه څارنه کول، د محصلانو رواني او روغتيايي ستونزو ته رسيدګي کول او د هغوی تر منځ د لا ښې همغږۍ په موخه د محصلانو د کمېټو ايجادول، شامل دي.

د علمي او محصلانو چارو معاونیت تشکیلاتي چارټ



## د مالي او اداري چارو معاونیت

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په کچه دوهم معاونیت چې د مؤسسې ټوله مالي او اداري برخه یې تر چتر لاندې فعالیت کوي، هغه د مالي او اداري چارو معاونیت دی. د مالي او اداري چارو معاونیت په کال ۱۳۹۷ لمریز کې ایجاد شوی، دغه معاونیت پر مالي او اداري برخو سربېره، په علمي، تدریسي او تحقیقاتي برخو کې هم استادانو، کارمندانو او محصلانو ته مالي او اداري خدمات وړاندې کوي او اساسي موخه یې د زده کړو لپاره د یوې هوسا او ډاډمنې فضا رامنځته کول دي. د مالي او ادارچارو د معاونیت تر چتر لاندې په بېلابېلو برخو کې شپاړس مدیریتونه فعالیت کوي. د مالي او اداري چارو د معاون په اساسي دندو کې لاندې موارد شامل دي:

۱. د فعالیتونو تنظیم او اهدافو ته د رسېدو په موخه د مالي، اداري، بشري سرچینو او تدارکاتو په برخه کې د عملیاتي پلانونو او کړنلارو جوړول او پلي کول .

۲. د بودجوي اړتیاوو وړاندوینه او له عادي او پراختیایي بودجې څخه د لګښتونو د تأمین په برخه کې د هغو له پلي کېدو او د عوایدو له تنظیم څخه څارنه کول.

۳. د مؤسسې له موخو سره سم د مالي کال په نیمایي کې د بودجې د بیاځلي وېشنې پرمهال د عادي او پراختیایي بودجې په برخو کې د ستونزو د حل په موخه د اړینو تدابیرو نیول .

۴. د مؤسسې په تشکیل پورې د اړوندو ټولو چارو لکه ګمارنه، ظرفیت لوړونه، له کارمندانو سره اړیکې، په دنده پورې د تړلیو اجراآتو ارزونه، د سوانحو، تقاعد، استعفاء او حاضریو مدیریت او څارنه کول .

۵. د مؤسسې د معلوماتي تکنالوژی، ترانسپورت، ترمیماتي خدمتونو، نشراتو، حفظ او مراقبت (د املاکو او جایدادونو پاکوالی او ساتنه) باندې مدیریت او څارنه کول .

۶. د مؤسسې له ټولو تدارکاتي، مصارفاتي، تادیاتي او داخلي عوایدو د تنظیم په برخه کې څارنه او کنټرول ترسره کول .

۷. د مؤسسې له ټولو مالي، حسابي، خریداریو، د اجناسو له قید او ثبت او نورو اداري چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول .

۸. د مؤسسې په کچه د تهیې او تدارکاتو د کمېټې منظمې غونډې دائرول او د هغو مشري کول.

۹. د مؤسسې په کچه په منظمه توګه د داخلي پلټنې د کمېټې غونډې جوړول او د هغو مشري کول .

۱۰. د لوړو زده کړو وزارت له قوانینو سره سم د مؤسسې په کچه د اداري غونډو جوړول او مدیریت کول.

۱۱. د عایداتي سرچینو د معلوملو په موخه د مؤسسې د مالي خپلواکی د کمېټې جوړول او د غونډو ترسره کول .

۱۲. د محصلینو روغتیایي، غذائي او معیشتي چارو ته د رسیدو په موخه د لیلیې اړوندو ټولو چارو کنټرول او مدیریت او له ټولو قوانینو او مقرراتو سره سم محصلانو ته د بدل اعاشې توزیع کول .

۱۳. په مالي او اداري برخو کې د پلان جوړونې، بشري سرچینو، خپرونو، عامه پوهاوي، لیلیې او معلوماتي تکنالوژۍ په اړه د مؤسسې رئیس ته د معلوماتو او مشورو ورکول .

۱۴. د مؤسسې ټاکل شوو موخو ته د رسېدو لپاره د وزارت له عمومي پلان سره سم د میاشتنیو، ربعوارو او کلنیو کاري پلانونو جوړول.

۱۵. تر لاس لاندې کارمندانو ته د ورکشاپونو، سمینارونو او کاري بهیر له لارې د مسلکي وړتیاوو لېږدول.

۱۶. د مؤسسې د کلني کاري پلان پر بنسټ د بودجوي اړتیاوو تشخیص او وړاندیز کول.

۱۷. د تر لاس لاندې کارمندانو مشري، مدیریت او ارزونه ترسره کول، د ښوونیزو اړتیاوو سنجول او د ظرفیتونو لوړول.

۱۸. د اړوندې برخې له کړنو څخه د میاشتنیو، ربعوار او کلنیو راپورونو وړاندې کول او د اړتیا پرمهال له مهمو کړنو او لاسته راوړنو څخه د مشرتابه د خبراوي په موخه د راپورونو وړاندې کول .

۱۹. د نورو هغو دندو ترسره کول، چې د اړوندو چارواکو له لوري د وزارت له پالیسۍ سره سمې سپارل کیږي .

۲۰. د مؤسسې د مالي، اداري، بشري سرچینو، معلوماتي تکنالوژۍ، خپرونو او عامه اړیکو په برخو کې د پروګرامونو د تنظیم او اړتیاوو پوره کولو په موخه د مالي او اداري چارو له معینیت او اړوندو ریاستونو سره د همغږۍ رامنځته کول .

۲۱. د مؤسسې د علمي او محصلانو چارو له مرستیالانو سره د اکاډمیکو چارو او کیفیت لوړاوي په برخو کې همکاري او همغږي ترسره کول.

## د مالي او اداري چارو د معاونیت اړوند مدیریتونه

### ۱- د کارمندانو د چارو عمومي مدیریت

د کارمندانو چارو عمومي مدیریت یو له هغو مدیریتونو څخه دی، چې په ۱۳۹۳ کال کې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په لومړي تشکیل کې منظور شوی او تر دې مهاله یې د ایجاد لس کلونه پوره شوي. د دغه مدیریت په بنسټیزو دندو کې د کارمندانو چارو ریاست سره په همغږۍ د کارمندانو استخدام، ترفیع، تقاعد، مجازاتو او مکافاتو په برخه کې د اړوندو اجراآتو ترسره کول؛ د وړتیا لرونکو کاندیدانو د استخدام، ارزونې، انفکاک، تغییر او تبدیل، ترفیع، تقاعد او اړوندو چارو څخه نظارت کول. په ښه توګه د قوانینو د پلي کولو په موخه د کارکوونکو شکایتونو، روغتیا، رفاه، مصؤنیت، نظم او دسپلین او ورځنۍ حاضرۍ ته رسیدګي کول؛ د مامورینو د ظرفیت

لوړوني په موخه د ورکشاپونو، سمینارونو او ښوونیزو پلانونو طرح کول. ټاکل شوو موخو ته د رسېدو لپاره د اداري له برنامو او فعالیتونو سره سم د دندو لایحې او تشکیلاتي جوړښتونو ترتیبول. د کارکوونکو د سوانحو په ډیټابس کې په سمه توګه د ارقامو له ثبتولو څخه د ډاډ حاصلولو په موخه څارنه کول؛ شامل دي. د دغه عمومي مدیریت تر چتر لاندې یو مدیریت او یو ماموریت هم شتون لري، چې یو یې د «ګمارنې او اداري پراختیا» مدیریت دی او بل هم د «حاضرۍ ماموریت» دی. د ګمارنې او اداري پراختیا مدیریت پر تشو بستونو د استخدام ټولې اداري چارې پر مخ وړي او د حاضرۍ ماموریت بیا د کارمندانو د سوبتیا اړوندې ټولې چارې پرمخ وړي.




### ۲- د مالي او اداري چارو عمومي مدیریت

د مالي او اداري چارو عمومي مدیریت د ۱۳۹۷ کال په تشکیل کې منظور شوی، د دغه مدیریت په عمومي دندو کې د عادي او انکشافي بودجې له اجراء څخه نظارت کول، د عادي او انکشافي بودجې د اړتیاسنجونې طرحه ترتیبول، په مالي او حسابي برخو کې اغېزمن سیستمونه رامنځته کول، د عادي او انکشافي بودجې د حوالو ترتیب، د محصلانو د بدل اعاشې چارې ترسره کول او ځینې نور موارد شامل دي. د مالي او حسابي چارو د عمومي مدیریت تر چتر لاندې دوه نور مدیریتونه هم قرار لري، چې یو یې د «تحصیلي اسنادو د تصفیې او بودجې مدیریت» دی، د دغه مدیریت په بنسټیزو دندو کې له لوړو زده کړو وزارت څخه د تخصیصاتو غوښتنه، له هغو څارنه او د کال په جریان کې د کمبود تخصیصاتو لپاره وړاندیزونه ترسره کول شامل دي او دوهم یې د «حواله جاتو او معاشاتو» مدیریت دی، چې تر ډېره د پوهنتون کادري غړو، اداري او خدماتي کارمندانو د میاشتنیو حقوقو، اضافه کارۍ او حق الزحمې د حواله کولو په برخه کې فعالیت کوي.




### ۳- د تهيې او تدارکاتو عمومي مدیریت

د تهيې او تدارکاتو عمومي مدیریت د مالي او اداري چارو د معاونیت تر چتر لاندې فعالیت کوي، دغه مدیریت په ۱۳۹۶ کال کې منظور شو. د دغه مدیریت په بنسټیزو دندو کې د مؤسسې په کچه د اړتیا وړ اجناسو او خدمتونو د چمتوکولو په موخه له ټولو پوهنځیو، آمریتونو او مدیریتونو څخه د غوښتنو راټولول او توحیدول؛ د نرخ اخیستنې، پېرودنې او تړونونو د مدیریت له لارې د غوښتل شوو اجناسو او خدمتونو د تهیه کولو د پړاوونو ترسره کول؛ د تهيې او تدارکاتو د پلان مطابق د اړتیا وړ اجناسو او خدمتونو د تهیه کولو په موخه د داوطلبۍ د اعلانونو ترتیب او د هغو د پړاوونو ترسره کول. د داوطلبو مراجعو او کمپنیو له لارې د اجناسو، خدمتونو او ساختماني چارو د چمتو کولو په موخه د آفرونو اصول عملي کول. د مناسبو آفرونو د ټاکنې په موخه اړوند کارپوه ته د کمپنیو او شرکتونو د آفرونو اسناد وړاندې کول؛ شامل دي. د دغه مدیریت ترچتر لاندې د اجناسو او ډیپوګانو مدیریت هم شتون لري، چې د ټولو پېرودل شوو اجناسو د ثبت او توزیع دنده پرغاړه لري.




| | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Series1 | 1566670 | 3728100 | 43888040 | 28992780 | 40356294 | 19000918 |
| Series2 | 1566670 | 3728100 | 26332824 | 17395668 | 40356294 | 19000918 |
| Series3 | 0% | 0% | 11597112 | 11597112 | 0% | 0% |

### ۴- د معلوماتي تکنالوژۍ عمومي مدیریت

د معلوماتي تکنالوژۍ عمومي مدیریت د مالي او اداري چارو معاونیت تر چتر لاندې په ۱۳۹۸ هـ-ش کال کې رامنځته شو. دغه مدیریت په خپل تشکیل کې دوه بستونه لري، چې یو یې د معلوماتي تکنالوژۍ عمومي مدیریت دی او بل یې د نرم توکواو سخت توکو تکنیشن مدیریت دی.

د معلوماتي تکنالوژۍ عمومي مدیریت په مهمو دندو کې د مالي او اداري مرستیال د کلني پلان سره سم د اونیز، میاشتني او کلني کاري پلان جوړول، د انټرنیټ د چټکو خدماتو وړاندې کول او په انټرنېټي شبکه کې امنیتي مسائلو ته پاملرنه کول، د معلوماتي تکنالوژۍ په مرکز کې د سرورونو، روټرونو او سویچونو څخه پرلپسې څارنه کول، د امنیتي کېمرو د سیستمونو مدیریت، څارنه او کنترول، د معلوماتي تکنالوژۍ په مرکز او اداري څانګو کې د کمپیوټرونو د سافټویر ستونزو حل کول، د لنډ مهاله کورسونو او الکترونکي زده کړو لپاره د کمپیوټر، انټرنیټ او پروجکټور آسانتیاوې برابرول، د پوهنتون د ویب سایټ تنظیم او اپډیټ کول او د رسمي ایمیلونو جوړول شامل دي.

### ۵- د کتابتون عمومي مدیریت

د کتابتون عمومي مدیریت د مالي او اداري چارو د معاونیت تر چتر لاندې فعالیت کوي، د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې کتابتون د لومړي ځل لپاره په ۱۳۹۴ کال کې رامنځته شو، خو هغه مهال د پوهنتون په کتابتون کې د ګوتو په شمار کتابونه موجود و، وروسته د پوهنتون له لوري د یو عمومي کمپاین په پایله کې ورته شاوخوا پنځه زره (۵۰۰۰) ټوکه کتابونه راټول او د دغه مدیریت له لوري تر ثبت او راجستر وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. تر ۱۳۹۶ کال پورې په دغه کتابتون کې د کتابونو شمېر ۶۱۶۱ ټوکونو ته رسېدو، خود وخت په تېرېدو سره ورته هر کال یو لړ کتابونه واخیستل شول، په دې توګه تر ۱۴۰۳ کال پورې ټول ۴۲۳۹ عنوانه او ۱۰۰۸۳ نسخې د

مختلفو ځانگو کتابونه په کې موجود دي.. د کتابتون عمومي مدیریت په خپل تشکیل کې دوه (۲) نور بستونه هم لري، چې یو یې د کتابتون عمومي مدیریت او بل یې دکتابونو د توزیع او تنظیم مدیریت دی. په ټولیزه توگه د کتابتون مدیریت په مهمو دندو کې د اداري له اړتیاوو سره سم د کتابونو آماده کول، دکتابدارۍ چارو تنظیم، د کتابتون له سرچینو اغېزناکه گټه اخیستنه، د گټه اخیستونکو د اړتیا وړ منابعو او اطلاعاتو پېژندل او اماده کول، د ارزښت لرونکو اسنادو او مدارکو راټولول او ساتل، د ډیجیتلي کتابتون جوړول شامل دي.




## ٦- د خپرونو، اړیکو او عامه پوهاوي عمومي مدیریت

د عامه پوهاوي، اړیکو او نشراتو عمومي مدیریت د لومړي ځل لپاره د ۱۴۰۳ کال په تشکیل کې منظور او ایجاد شو، دغه مدیریت د مالي او اداري چارو د معاونیت تر چتر لاندې فعالیت کوي او په خپل تشکیل کې د خپرونو د اېډېټور تر سرلیک لاندې یوازې یو بل بست لري، چې د خپرونو د اېډیټ او سمون چارې پر غاړه لري. د دغه مدیریت په مهمو دندو کې د مؤسسې په کچه د رسنیزو محفلونو، غونډو او کنفرانسونو جوړول، د خپرېدونکو موادو (مجله، د استادانو لکچر نوټونه) او د مؤسسې په کچه د اړتیا وړ فورمو له چمتو کولو څخه څارنه او سمونه ترسره کول، د اصلاح شوو راپورونو د خپرولو په موخه له ټولو رسنیو سره کاري اړیکې رامنځته کول، د ټولنیزو رسنیو له لارې د راپورونو او مطبوعاتي کنفرانسونو د خپرولو په برخه کې اړینې کړنې ترسره کول، ټاکل شوو موخو ته د رسېدو په موخه د میاشتنیو، ربعوارو او کلنیو پلانونو او راپورونو چمتو کول، د ورکشاپونو، سمینارونو او ښوونیزو برنامو له لارې تر لاس لاندې کارمندانو ته د مسلکي وړتیاوو لېږدول شامل دي.

## ۷- د ساتنې او پاملرنې عمومي مدیریت

د ساتنې او پاملرنې عمومي مدیریت په ۱۴۰۲ کال کې ایجاد شوی دی، دغه مدیریت د مؤسسې د ټولو ملکیتونو، ودانیو، چاپېریال ساتنې، اوبو رسونې، کانالیزاسیون او برق سیستمونو د ساتنې او پاملرنې چارې پر غاړه لري. د یاد مدیریت په مهمو دندو کې دا شامل دي، چې د مؤسسې له برېښنا سیستم، برق، تلیفون، کانالیزاسیون، یخنۍ او تودخې د سیستمونو، زرغون چاپیریال ساتنې ته پاملرنه وکړي او د ټولو سیسمتونو له فعالیت څخه ځان ډاډمن کړي. پر دې سربېره دغه مدیریت د ودانیو د آهن پوښونو، کړکیو، دروازو او نورو اړوندو اجناسو د ترمیم، ساتنې او پاملرنې مسؤلیت هم پر غاړه لري. د دغه مدیریت تر چتر لاندې د خدماتو عمومي مدیریت قرار لري، چې د تحویلخانې، ودانیو، اوبو رسونې او کانالیزاسیون، برېښنا شبکې او شنو ساحو د ساتنې لپاره د اړینو تجهیزاتو اړتیاسنجونه کوي او د هغو د خریدارۍ وړاندیزونه کوي. پر دې سربېره دغه مدیریت د ترانسپورتي وسایطو څارنه او ساتنه هم کوي، ترڅو ورځنیو چارو کې خنډ رامنځته نه شي.



## د مالي او اداري چارو د معاونيت تشکيلات



## دوهم څپرکی

## د پوهنځیو ریاستونه، د دیپارتمنتونو آمریتونه او تدریسي مدیریتونه

د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې په علمي تشکیل کې تر دې مهاله پنځه پوهنځي ایجاد شوي دي، لومړنی پوهنځی چې د دې مؤسسې له ایجاد سره سم یې په فعالیت پیل وکړ، هغه د کرنې پوهنځی دی، چې په ۱۳۹۳ کال کې ایجاد او په ۱۳۹۴ کال کې یې د لومړي ځل لپاره د هارټیکلچر او اګرانومي دیپارتمنتونو ته محصلین جذب کړل، دغه پوهنځي تر دې مهاله شپږ دورې محصلین فارغ او ټولنې ته دخدمت په موخه وړاندې کړي دي.

د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې د پراختیا په لړ کې دوهم پوهنځی د ښوونې او روزنې پوهنځی دی، چې په ۱۳۹۷ کال کې ایجاد او په ۱۳۹۸ کال کې یې د لومړي ځل لپاره د ریاضي او فزیک څانګو ته محصلین جذب او په ۱۴۰۳ کال کې یې لومړی دوره محصلین ټولنې د خدمت لپاره وړاندې کړل. په ۱۴۰۲ کال کې د دغه پوهنځي په علمي برنامو کې د کیمیا او بیولوژي دوه نور دیپارتمنتونه هم اضافه شول، چې په ۱۴۰۳ کال کې یې لومړی دوره محصلین جذب کړل.

کمپیوټر ساینس پوهنځی د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې دریم پوهنځی دی، چې په ۱۴۰۱ کال کې یې د دوو دیپارتمنتونو (معلوماتي سیستمونه، د شبکې انجنیري) په لرلو سره په فعالیت پیل وکړ او تر دې مهاله یې درې دورې محصلین جذب کړي دي.

پر دې سربېره د ۱۴۰۱ کال د علمي پراختیاوو په لړ کې شرعیاتو پوهنځی هم د دوو دیپارتمنتونو (اسلامي تعلیمات، فقه او قانون) په لرلو سره ایجاد او په ۱۴۰۲ کال کې یې په فعالیت پیل وکړ. شرعیاتو پوهنځي په یادو دوو دیپارتمنتونو کې تردې مهاله درې دورې محصلین جذب کړي.

د علمي برنامو د پراختیا په لړ کې اقتصاد پوهنځی هم په ۱۴۰۲ کال کې ایجاد او د لومړي ځل لپاره یې په ۱۴۰۳ کال محصلین جذب کړل، دغه پوهنځی د ملي اقتصاد، اداري او سوداګرۍ تر سرلیک لاندې دوه دیپارتمنتونه لري.

### د پوهنځي د رئیس دندې

د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې له تشکیل سره سم د پوهنځیو د ریاستونو بستونه کادري دي، له همدې امله د لوړو زده کړو وزارت له قوانینو او اصولو سره سم د دغې مؤسسې لوړ رتبه استادان ورته د رئیسانو په توګه ګمارل شوي، چې مهمې دندې یې په لاندې ډول دي:

1. د تدریس د کیفیت ښه والي، د څانګو او استادانو د خپل منځي همغږۍ او تجاربو د شریکولو په موخه د څانګړې پالیسي جوړول.
2. د درسي موادو چمتو کولو، څېړنیزو چارو، په کمي او کیفي لحاظ موخو ته د رسېدو لپاره د علمي کادرونو د علمي درجو لوړولو په موخه د طرزالعملونو د جوړولو طرحې وړاندې کول.

3. د هېواد په داخل او خارج کې له مماثل پوهنځيو سره د علمي او څېړنيزو تجربو د شريکولو او کاري اړيکو د ټينګښت په موخه د مؤسسې رياست ته د اغېزمنو طرحو وړاندې کول.
4. د پوهنځيو په تشکيل کې د شامل اعضاوو د څېړنيز او تجربي رژيمونو د ښه والي او پراختيا لپاره د مؤسساتو او نورو ارګانونو د پرلپسې همکاريو د جذب په موخه د ټاکل شوو طرحو وړاندې کول.
5. د پوهنځي په کچه د تدريس د کيفيت د ښه والي په موخه له درسي پلانونو، ميتودلوژۍ او درسي موادو بياکتنه او د هغو پر پلي کېدو څارنه او کنټرول ترسره کول.
6. د تحصيلي چارو په کيفيت کې د ښه والي په موخه د پوهنځيو په کچه له نظم او دسپلين څارنه کول، د هر سمسترونو په پيل کې د درسي مهال وېشونو او د ازموينو د مهالوېشونو ترتيبول.
7. د کاري اغېزمنتيا د کچې لوړولو په موخه د قوانينو، مقررو، لوايحو او د پوهنځي د علمي شوراګانو د پرېکړو پلي کول.
8. د علمي کادرونو د تجهيز او اکمال په موخه د تخنيکي او بشري اړتياوو له تنظيم څخه څارنه او کنټرول ترسره کول.
9. په بېلابېلو تحصيلي برخو کې په هممهاله توګه د ګډو علمي او څېړنيزو لاسته راوړنو څخه د ګټې اخيستنې په موخه له نورو مماثلو بنسټونو سره د علمي او اکاډميکو تجربو شريکول.
10. په علمي، اداري او نورو شوراګانو کې ګډون کول او له نورو پوهنځيو سره همکاري کول.
11. د مؤسسې په کچه له عمومي پلان سره سم ټاکل شوو موخو ته د رسېدو لپاره د مياشتنيو، ربعوارو او کلنيو کاري پلانونو جوړول.
12. د هېواد له نافذه قوانينو سره سم په اړوند وزارت کې له خپلو کړنو څخه راپور ورکول او د شفافيت ټينګښت.
13. تر لاس لاندې کارمندانو ته د ورکشاپونو، سمينارونو او کاري بهير له لارې د مسلکي وړتياوو لېږدول.
14. د مؤسسې د کلنې کاري پلان پر بنسټ د بودجوي اړتياوو تشخيص او وړاندېزول.
15. د تر لاس لاندې کارمندانو مشري، مديريت او ارزونه ترسره کول، د هغوی لپاره د ښوونيزو اړتياوو سنجول او د ظرفيتونو لوړول.
16. د اړوندې برخې له کړنو څخه د مياشتنيو، ربعوارو او کلنيو راپورونو وړاندې کول او د اړتيا پرمهال له مهمو کړنو او لاسته راوړنو څخه د مشرتابه د خبراوي په موخه د راپورونو وړاندې کول.
17. د نورو هغو دندو ترسره کول، چې د اړوندو چارواکو له لوري د وزارت له پاليسی سره سمې سپارل کيږي.
18. اړتيا او موقع ته په کتو سره له ټولو ذيربطو ادارو او څانګو سره همغږي رامنځته کول.

د ديپارتمنتونو د آمرينو دندې:

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو پوهنځيو په کچه تر دې مهاله دولس ديپارتمنتونه جوړ شوي، چې چارې يې د آمرينو له خوا پرمخ وړل کيږي. د ديپارتمنتونو د آمرينو بستونه هم کادري بستونه دي، چې د لوړو زده کړو

وزارت له اصولو او مقرراتو سره سم ورته د دغې مؤسسې لوړ رتبه استادان د آمرینو په توګه ګمارل شوي دي.

د دیپارتمنتونو د آمرینو مهمې په لاندې ډول دي:

1. د دیپارتمنت د جلساتو مشري کول
2. د لوړ پوړو بنسټونو پر وړاندې له اصولو او مقرراتو سره سم د دیپارتمنت دنده ترسره کول
3. د اجنډا او دیپارتمنت د کاري پلان ترتیبول
4. د دیپارتمنت د غونډو د پرېکړو په هکله اصولي اجراآت کول، د تقرر د اسنادو بشپړول، علمي ترفیع او انفکاک ترسره کول
5. د درسي نصاب له تطبیق څخه نظارت او همدارنګه د دیپارتمنت اړوند د نظري، عملي او ساحوي درسونو څخه نظارت کول
6. د پوهنځي او دیپارتمنت د حالت د ښه والي او انکشاف لپاره د ابتکاراتو او نوښتونو وړاندې کول.
7. د دیپارتمنت د اړتیاوو پوره کولو لپاره هڅې کول
8. د دیپارتمنت د اکاډمیکو او اداري چارو تنظیمول
9. د دیپارتمنت د هغه شمېر غړو د فعالیتونو د تحسین او تقدیر له پاره وړاندیزکول، چې له ځانه یې نوښت ښودلی او په تدریس کې یې فعاله ونډه اخیستې وي او د دیپارتمنت د هغه شمېر غړو له پاره د مجازاتو وړاندیز کول، چې د جدي تخلفاتو مرتکب شوي وي.
10. د پوهنځي ریاست او علمي شورا ته د دیپارتمنت د کړنو او فعالیتونو راپور وړاندې کول.
11. په هر سمستر کې د دیپارتمنت د علمي کادر د غړو د فعالیتونو ارزیابي او د دیپارتمنت مجلس ته د هغو وړاندې کول
12. نورې هغه دندې ترسره کول، چې د قانون له احکامو سره سم د دیپارتمنت په آمر پورې اړه لري

**د تدریسي چارو د عمومي مدیریتونو دندې:**

د تدریسي چارو عمومي مدیریتونه د پوهنځیو په کچه په تدریس، محصلانو او استادانو پورې د اړوندو چارو اداري مسؤلیت او مدیریت پر غاړه لري، د ټولو پوهنځیو په کچه د تدریسي چارو یو عمومي مدیریت شتون لري، چې عمده دندې یې په لاندې ډول دي:

1. د محصلانو د جدولونو ترتیب، د فارغو محصلانو د اسنادو، ترانسکرپټونو او ډیپلومونو ترتیبول.
2. د تدریس د نظم او د وخت له ضایع کېدو څخه د مخنیوي په خاطر د تدریسی مهالویش ترتیبول.
3. د استادانو د علمي رتبو او ترفیعاتو د اسنادو برابرول.
4. د شپې پوهنځي د تدریسي مهالویش ترتیبول.
5. له طرزالعمل سره سم د فارغ شویو محصلینو د ترانسکرپټ او ډیپلوم آماده کول.
6. د ریاست له پلان سره سم ټاکلو شوو موخو ته د رسېدو په موخه د میاشتني، ربعوار او کلني کاري پلان ترتیبول.

7. د ثبت نام له پروسې څارنه او د حاضریو کنټرول او همدارنګه د نوو شاملو شوو محصلینو د درسي مهالویش ترتیبول.
8. د محصلینو د احصائیوي جدولونو ترتیبول او له علمي معاونیت سره یې شریکول .
9. د محصلینو په چارو کې د اړوندو ادارو سره د کارونو پر وخت د اجراء لپاره هماهنګي کول.
10. تر لاس لاندې کارکوونکو او همدارنګه د اړوندو برخو سره د اداري د متوقعه اهدافو د حاصلولو لپاره د همغږۍ رامنځته کول او د اړیکو ټینګول.

## د کرنې پوهنځی

کرنې پوهنځی په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې چې د ۲۰۱۴ میلادی کال سره سمون خوري د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې له ایجاد سره سم د دوو څانګو (هارتیکلچر او اګرانومي) او دریو تنو استادانو په لرلو سره ایجاد شو. اوسمهال کرنې پوهنځی په علمي، اداري او خدماتي برخو کې دوه ویشت (۲۲) عنوانه بستونه لري، چې له دې جملې څخه څوارلس بستونه یې کادري، څلور بستونه یې اداري، دوه بستونه یې د بنوالۍ او دوه نور یې د خدماتي کارکوونکو دي.

کرنې پوهنځي په ۱۳۹۴ هـ ش کال کې د لومړي ځل لپاره د هارتیکلچر او اګرانومي څانګو ته ۷۵ تنه محصلین جذب کړل، خو اوسمهال یې په یادو دواړو څانګو کې د محصلینو شمېر ۳۵۹ تنو ته رسیږي، کرنې پوهنځي د




| | 1 |
|---|---|
| د استادانو شمیر | 11 |
| د محصلینو شمیر | 359 |
| د محصل پر استاد نسبت | 32.63 |
| د محصل پر کارمند نسبت | 89.75 |
| د محصل پر خدماتي کارکوونکي نسبت | 89.75 |

رامنځته کېدو په تېر لس کلن بهیر کې ۵۸۹ تنه محصلین تولنې ته د خدمت په موخه فارغ کړي دي.

کرنې پوهنځي د کیفیت لوړاوي په برخه کې هم اړین فعالیتونه ترسره کړي دي. د کیفیت لوړاوي په موخه یې په علمي او اداري برخو کې ۸ کمېټې جوړې کړې دي چې د پوهنځي د کیفیت لوړاوي لپاره په دوامداره توګه کارونه سرته رسوي، یادې کمېټې عبارت دي له: ۱- د کیفیت لوړاوي کمېټه، ۲- د ستراتیژیک پلان کمېټه، ۳- د

نصاب کمېټه، ۴- د څېړنې کمېټه، ۵- د الکترونیکي زده کړو کمېټه ٦- د آزموینو کمېټه ، ۷- مالي کمېټه، ۸- د فرهنګي چارو او نشراتو کمېټه، ۹ـ د نظم او ډیسپلین کمېټه، ۱۰- د ظرفیت لوړونې کمېټه.

**موخې:**

- د عصري او معیاري میتودونو په وسیله د تدریس چارې پر مخ وړل
- د عصری کرنې د انکشاف، د نباتاتو د تکثیر او اصلاح په موخه، د نباتي ناروغیو او آفاتو په مقابل کې مبارزه
- د خاورې ساتنه او اصلاح، د اوبو تنظیم او مدیریت
- د حیواني او نباتي محصولاتو د اصلاح او مدیریت په برخو کې د علمي او مسلکي کادرونو روزل
- د استادانو او محصلینو په واسطه د څانګو اړوند علمي څېړنو سرته رسول
- د کرنې او مالدارۍ سکتور اړوند علمي تألیفاتو، ژباړو، سمینارونو، ورکشاپونو او اړوند مسلکي فعالیتونو سرته رسول

**لرلید:**

کرنې پوهنځی په علمي ډګر کې د هېواد په کچه د کرنې د یوې غښتلې او اکاډمیکې اداري د رامنځته کولو هڅې کوي، ترڅو د کرنې په برخه کې د هېواد د پرمختګ، هوساینې او ښې راتلونکې لپاره با استعداده، مسلکي او په ملي روحیه سمبال کادرونه وروزی.

**رسالت:**

کرنې پوهنځی د مسلکي، اخلاقي او اکاډمیکو معیارونو په رڼا کې د استادانو، محصلینو او کارمندانو لپاره د علمي پوهې د لاسته راوړلو، شریکولو او د علمي چارو لپاره زمینه برابروی.

**ارزښتونه:**

1. د هېواد اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ساتنه
2. د کرنیز سکتور په برخه کې د علمي او مسلکي کادرونو روزنه
3. د اوسني عصر او ټکنالوژۍ له غوښتنو سره سم د مؤثر او اغېزمن تحصیلي نصاب پلي کول
4. د نظام د ملاتړ په موخه د سالمې رهبرۍ او مدیریت رامنځته کول
5. د هڅاند استاد، کارمند او محصل روزل

**توأمیتونه**

کرنې پوهنځی د وردګ ولایت چاپیریال ساتنې ریاست سره د علمي کچې د لوړولو، د دواړو اړخونو تر منځ د علمي، تحصیلي او څېړنیزو همکاریو د پراختیا په موخه هوکړه لیک لاسلیک کړی دی، چې لویې موخې یې په لاندې ډول دي:

1. د دواړو بنسټونو تر منځ د همکارۍ د روحیې تقویه او پراختیا
2. د علمی تجربو شریکول

3. د دواړو لوریو له اړتیا سره سم د ګډو لنډمهاله روزنیز ورکشاپونو، سیمینارونو او کورسونو دائرول
4. د ستونزو په ګوته کول او هغو ته حللاري لټول
5. په مشترکه توګه د علمي څېړنو سرته رسول
6. د اړونده ادارو څېړنیزو پالیسو ته په کتو سره د مشترکو څېړنیزو فعالیتونو پرمخ وړل.

**امکانات:**

- د کرنې پوهنځي تعمیر په ۱۳۹۶ کال کې د نړیوال بانک د لوړو زده کړو د پراختیا پروګرام (HEDP) له لوري منظور او په همدې کال کې یې د جوړولو چارې پیل او اویا سلنه چارې یې بشپړې شوې، خو نورې چارې یې په افغانستان کې د بانک جهاني د فعالیتونو له ځنډېدو سره سم وځنډېدې. د اسلامي امارت په راتګ سره د لوړو زده کړو وزات د یادې ودانۍ د چارو بشپړول د ۱۴۰۴ کال په پراختیایي پلان کې شاملې کړي دي، هیله ده، پاتې چارې یې په ۱۴۰۴ کال کې بشپړې شي.
- د کرنې پوهنځي دوه تنه استادان له خارجي هېوادونو څخه دکتوراوې لري او پاتې نور ټول استادان یې له داخلي او خارجي پوهنتونونو څخه ماستری لري. پر دې سربېره د دغه پوهنځي اداري کارمندان په خپلو برخو کې د کافي تجربې او پوهې خاوندان دي.
- د مجهزو تدریسي ټولګیو شتون، چې پر LCD، پراجیکتور، میز، چوکۍ، بادپکې، تخته، مارکر او برق سمبال دي.
- کرنې پوهنځی د څېړنو لپاره پراخه ځمکه او خوړې اوبه په خپل اختیار کې لري، د دغه پوهنځي لپاره په ۱۸ جریبه ځمکه کې یو مجهز څېړنیز فارم جوړ شوی، چې هر کال په کې استادان او محصلین څېړنیزې پروژې عملي کوي.
- د کرنې پوهنځي ټولې اداري خونې په لازمو اداري وسایلو او تجهیزاتو (میز، چوکۍ، الماری، کمپیوټرونه، پرینټرونه او داسې نور) باندې سمبال دي.
- د پوهنتون په کتابتون کې د کرنې پوهنځي اړوند کتابتونه شتون لري، چې محصلین او استادان ترې ګټه اخلي او هر کال ورته پراختیا ورکول کیږي.
- د کرنې پوهنځي په ټولو اداري خونو کې او د محصلینو لپاره په کمپیوټر لب کې انټرنیټي خدمات په پام کې نیول شوي، چې محصلین او استادان ترې ګټه اخلي.


د کرنې پوهنځي رياست
د کرنې پوهنځي مرستيال
ديپارتمنتونه
مديريتونه
خدماتي او محافظتي
د هارټيکلچر ديپارتمنت
د اګرانومي ديپارتمنت
پوهنمل حکمت الله حکمت
پوهنمل ايمل ناصري
دکتور عبدالکريم ايمن
پوهنيار زاهدالله زاهد
پوهنيار اجمل حبيبي
پوهنيار احمدشاه احمدزی
پوهنمل نورمحمد احمدی
پوهنيار عبدالله آرام
پوهنمل محمد جان آرين
پوهنيار عبدالبصير ترابی
پوهنيار حنيف الله عابد
تدريسي مديريت
اجرائيه مديريت
د څېړنيز فارم مديريت
لابرانت
باغبان
باغبان
خدماتي کارکوونکی
خدماتي کارکوونکی

## د کرنې پوهنځي ډیپارټمنتونه

د کرنې پوهنځی تر دې مهاله د باغدارۍ (Horticulture) او نباتي علومو (Agronomy) په نومونو دوه ډیپارټمنتونو لري، چې هر یو یې په لاندې توګه در پېژنو:

### الف: د نباتي علومو (Agronomy) ډیپارټمنت:

د کرنې پوهنځي اګرانومي څانګه په ۱۳۹۳ هـ ل کال کې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې له ایجاد سره سمه جوړه او په ۱۳۹۴ لمریز کال کې یې د نباتي علومو په برخه کې د مسلکي کادرونو د روزنې په موخه له کانکور ازموینې څخه د دولسمو ټولګیو فارغین جذب کړل. د لیسانس په کچه له دغې څانګې څخه لومړی دوره فارغین په ۱۳۹۷ کال کې ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شول. اګرانومي څانګه چې د کرنې پوهنځي یوه بنسټیزه څانګه ګڼل کیږي، تر دې مهاله یې ۲۵۸ تنه محصلین ټولنې ته د دخدمت په موخه معرفي کړي او ۱۷۸ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي. د دغه ډیپارټمنت نظري او عملي زده کړه ییز بهیر د شپږو (٦) تنو رسمي استادانو له لورې پرمخ وړل کیږي. د کرېډېټ لایحې او نوي کریکولم مطابق په اګرانومي څانګه کې د لیسانس په کچه ۴۲ تخصصي، ٦۰ اساسي، ۴۵ پوهنتون شموله او ٦ اختیاري کرېډیټونه لوستل کیږي، چې ټولټال ۱۸۳ کرېډېټونه کیږي.




### موخې:

د اګرانومي ډیپارټمنت په اساسي موخو کې د څېړنو ډیزاین او عملي کول، د نباتاتو د کرنیزو عملیو په سالم ډول تنظیم، اداره او ورته مناسب محیط برابرول، د فی واحد ځمکې څخه لوړ او دوامداره تولید ترلاسه کول، د اوبو او چاپیریال له ککړتیا څخه مخنیوی کول، د خاورې د حاصلخیزی ساتل او د تل پاتې کرنې اساسات عملي کول، د مصارفو کموالی او د میکانیزه کرنې میتودولوژي ترویجول، د طبیعي آفاتو او ژوندیو تخریبي موجوداتو په سبب د ضایعاتو مخنیوی او سالم مدیریت، دیېرنې حالت د کابو کولو، د عرضې او تقاضا توازن ساتلو لپاره د غذایي موادو د ذخیرې او پروسس اداره کول، د فابریکو دوامدار تولید ته دخامو موادو تهیه او د بهرنیو اسعارو ترلاسه کول، شامل دي.

**لرلید:**

اگرانومي څانگه به د هر اړخیزې پراختیا لپاره د علمي او مسلکي کادرونو په روزولو او د علمي څېړنو په ترسره کولو سره د هیواد  په کچه د کرنې پوهنځي د مخکښې څانگې په توگه وپیژندل شي.

**رسالت:**

اگرانومي څانگه هڅه کوي چې د علمي او مسلکي کادرونو په روزلو او د علمي څیړنو په ترسره کولو سره د اگرانومي علم او په ذکرشوې برخه کې د نویې تکنالوژۍ معرفي او زیاتوالي ته پراختیا ورکړي، ترڅو  د ټولنې وگړو ته  د صحي او کافي خوړو تیارولو، پر مختگ او هوساینې زمینه مساعده شي.

**ارزښتونه**

1. د اگرانومي فعالیتونو د تطبیق پر مهال اسلامي فرهنگ او کلتور ته د درناوي په موخه محلي او نړیوالو اړیکو ته پاملرنه کول.
2. د نویو او پرمختللو اگرانومیکي غوره طریقو د اختیارولو په پار څېړنې پلي کول
3. د خلکو د اقتصادي ستونزو د حلولو لپاره د علمي او تحلیلي مهارتونو اړوند د اگرانومي زده کړو او پوهې ته پراختیا ورکول.
4. چاپېریال او طبیعي منابعو ته په پام سره د پایښت لرونکي تولید په موخه څېړنې تر سره کول.
5. د عرضه او غوښتنې د قوانینو پر بنسټ د تولیداتو سیستم عیارول
6. د اگرانومي علم عامول او د منابعو سالم مدیریت ته پاملرنه کول.
7. په لوړو با کیفیته تولیداتو سره غذائي مصئونیت رامنځته کول او د لوږې او فقر له منځ وړل.
8. د خلاقیت او نوښت رامنځته کول

**تحصیلی نصاب:**

| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اسلام اعتقادي نظام | SL. IC0171 | پوهنتون شمول | 2 |
| ۲ | تجوید | SL. IC0171 | پوهنتون شمول | 1 |
| ۳ | انگلیسي (1) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۴ | معاصر تاریخ | | پوهنتون شمول | ۱ |
| ۵ | عمومي کیمیا | | اساسي | ۳ |
| ۶ | عمومي نباتات | Ag-Agron 111 | اساسي | ۳ |
| ۷ | عمومي زولوژي | Ag-AnSc 112 | اساسي | ۳ |
| ۸ | عمومي ریاضي | | اساسي | ۲ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۹ | کمپیوتر (1) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۰ | د اسلام اعتقادي نظام | | پوهنتون شمول | 2 |
| ۱۱ | سیرت | | پوهنتون شمول | 2 |
| ۱۲ | انګلیسي (2) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۳ | فزیک | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۴ | عضوي کیمیا | | اساسي | ۳ |
| ۱۵ | نباتي سیستماتیک | Ag-FNR 0213 | اساسي | ۳ |
| ۱٦ | چاپیریال ساتنه | Ag -FNR 0214 | پوهنتون شمول | ۱ |
| ۱۷ | کمپیوتر (2) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۸ | غذايي مصونیت | Ag-FT 0215 | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۹ | کرنیز ترویج اساسات | Ag-EcEx 0216 | اساسي | ۳ |
| ۲۰ | د اسلام اخلاقي نظام | SL. IC0175 | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۲۱ | د اسلام ټولنیز نظام | SL. IC0176 | پوهنتون شمول | 2 |
| ۲۲ | انګلیسي | | ټول شمول | ۲ |
| ۲۳ | د خاورې پیژندنې اساسات | Ag.SS 0318 | اساسي | ۳ |
| ۲۴ | د کرنیزو نباتاتو اساسات | Ag.Agron0319 | اساسي | ۳ |
| ۲۵ | د مایکرو بیولوژي اساسات | Ag.AnSc 0320 | اساسي | ۳ |
| ۲٦ | د نباتي ناروغیو اساسات | Ag.Pp 0321 | اساسي | ۳ |
| ۲۷ | د بایو تکنالوژي اساسات | Ag.BT 0323 | اختیاري / اساسي | ۳ |
| ۲۸ | د غذايي موادو د تکنالوژ اساسات | Ag.FT 323 | اختیاري | ۲ |
| ۲۹ | فکري پوهنه | SL. IC0177 | پوهنتون شمول | 2 |
| ۳۰ | ادیان او مذاهب | SL. IC0178 | پوهنتون شمول | 2 |
| ۳۱ | انګلیسي | | ټول شمول | ۲ |
| ۳۲ | د حشره پوهنې اساسات | AgPP 0425 | اساسي | ۳ |
| ۳۳ | د کرنیزو ماشین آلاتو اساسات | AgAgron 0425 | اساسي | ۳ |
| ۳۴ | د بنوالی اساسات | AgHort 0426 | اساسي | ۳ |
| ۳۵ | د کرنیز اقتصاد اساسات | AgEcEx0418 | اساسي | ۳ |
| ۳٦ | د ځنګل پوهنې اساسات | AgFNR 0429 | اساسي | ۳ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | د مالداری اساسات | AgAnSc 0430 | اساسي | ۳ |
| ۳۸ | د اسلام اداری نظام | | پوهنتون شمول | 3 |
| ۳۹ | د ایکولوژی اساسات | AgFNR 0532 | اساسی | ۲ |
| ۴۰ | د وچو سیمو کرنه | AgAgron 0531 | اساسی | ۲ |
| ۴۱ | د هرزه بوتو کنترول اساسات | AgAgron 0532 | اساسی | ۳ |
| ۴۲ | علوفه جات | AgAgron 0533 | اساسی | ۲ |
| ۴۳ | د کرنیزو احصائیه مبادی | AgEcEx 0521 | اساسی | ۳ |
| ۴۴ | ارگانیک فارمینگ (کرنه زراعت) | AgAgron 0535 | اساسی | ۲ |
| ۴۵ | تل پاتی کرنه | AgAgron 0536 | اساسی | ۲ |
| ۴۶ | د کرنیزو ماشین آلات تکنالوژی | AgAgron 0537 | اساسی/اختیاری | ۳ |
| ۴۷ | د اسلام اقتصادی نظام | SL.IC.0782 | پوهنتون شمول | 3 |
| ۴۸ | د کرنیزو محصولاتو بازارموندنه | AgEcEx 0624 | اساسی | ۲ |
| ۴۹ | د علمی طرح و تحلیل و تجاربی | AgAgron 0638 | اساسی | ۳ |
| ۵۰ | حبوبات | AgAgron 0640 | اساسی | ۳ |
| ۵۱ | د وراثت پوهی مبادی | AgBT 0632 | اساسی | ۳ |
| ۵۲ | نباتی فزیولوژی | AgAgron 0641 | اساسی | ۳ |
| ۵۳ | د کرنیزو نباتاتو مضر حشره او کنه | AgPP 0642 | اساسی | ۳ |
| ۵۴ | قرآن او معاصرعلوم | SL.IC0782 | پوهنتون شمول | 3 |
| ۵۵ | دآبیاری آساسات | AgSS0740 | تخصصي | ۳ |
| ۵۶ | غله جات | AgAgron0743 | تخصصي | ۳ |
| ۵۷ | نباتي نسلگيري | AgBT0736 | تخصصي | ۳ |
| ۵۸ | د خاورې حاصلخيزي او نباتي تغذيه | AgSS0741 | تخصصي | ۳ |
| ۵۹ | تحقيقي پروژه | AgAgron0746 | تخصصي | ۲ |
| ٦۰ | د کرنیزو نباتاتو دمحصولاتو ذخیره او پروسس | AgBT0737 | تخصصي | ۳ |
| ٦۱ | اسلامي تمدن | SL. IC0883 | پوهنتون شمول | 3 |
| ٦۲ | دکرنيزو نباتاتو امراض | AgPP0851 | تخصصي | ۳ |
| ٦۳ | صنعتي نباتات | AgAgron0848 | تخصصي | ۳ |
| ٦۴ | دکرنیزو تخمونو دعلم او تکنالوزی آساسات | AgBt0841 | تخصصي | ۳ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٦٥ | د خاورو او اوبو ساتنه | AgSS0847 | تخصصي | ۳ |
| ٦٦ | تیلي نباتات | AgAgron0849 | تخصصي | ۳ |
| ٦٧ | طبي نباتات | AgFNR0860 | تخصصي | ۲ |
| ٦٨ | تحقیقي پروژه | AgAgron0850 | تخصصي | ۲ |

**ب: د هارټیکلچر دیپارټمنت:**

د کرنې پوهنځي هارټیکلچر څانګه په ۱۳۹۳ هـ ل کال کې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې له ایجاد سره سمه جوړه او په ۱۳۹۴ لمریز کال کې یې د باغدارۍ په برخه کې د مسلکي کادرونو د روزنې په موخه له کانکور ازموینې څخه د دولسمو ټولګیو فارغین جذب کړل. د لیسانس په کچه له دغې څانګې څخه لومړۍ دوره فارغین په ۱۳۹۷ کال کې ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شول. هارټیکلچر څانګه چې د کرنې پوهنځي یوه بنسټیزه څانګه ګڼل کیږي، تر دې مهاله یې ۳۳۰ تنه محصلین ټولنې ته د دخدمت په موخه معرفي کړي او ۱۸۱ تنه




محصلین په کې په زده کړو بوخت دي. د دغه دیپارټمنت نظري او عملي زده کړه ییز بهیر د شپږو تنو رسمي استادانو له لوري پرمخ وړل کیږي. د کرېډېټ لایحې او نوي کریکولم مطابق په اګرانومي څانګه کې د لیسانس په کچه ۴۶ تخصصي، ۸۳ اساسي، ۴۵ پوهنتون شموله او ٦ اختیاري کرېډیټونه لوستل کیږي، چې ټولټال ۲۱۹ کرېډېټونه کیږي.

**موخې:**

د هارټیکلچر دیپارټمنت په اساسي موخو کې د هارټیکلچر د سکتور په برخه کې د ځوانو کادرونو روزنه او په دې برخه کې د محصلینو د مهارتونو او ظرفیتونو لوړول، د نوې ټکنالوژۍ او د هغو له استعمال سره د محصلینو بلدول، د مختلفو هارټیکلچري پروژو د تطبیق سره د محصلینو بلدول او په یاده برخه کې د شرکاوو د اړتیاوو رفع کول او د هارټیکلچر په سکتور کې د علمي او فني څېړنو او مطالعاتو ترسره کول، شاملې دي.

**لیدلوری:**

د هارټیکلچر څانګه د یاد سکتور د هراړخیزه انکشاف لپاره د علمي او مسلکي کادرونو د روزلو او څېړنو ترسره کولو له لارې د هېواد په کچه د کرنې پوهنځې د مخکښې څانګې په توګه وپېژندل شي.

**رسالت:**

د هارټیکلچر څانګه هڅه کوي چې د علمي او مسلکي کادرونو د روزنې او څېړنو په ترسره کولو سره د باغدارۍ د علم او په یاده برخه کې نوې تکنالوژۍ او میتودونه وپېژني او د تدریسي، څېړنیزو او ترویجي پروسو له لارې د ټولنې اقتصادي او ټولنیزې هوساینې لپاره ښه دنده ترسره کړي.

**تحصیلی نصاب:**

| شمیره | مضمون نوم | کوډ نمبر | د مضمون نوعیت | کریډیت شمیر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اسلام اعتقادي نظام | SL. IC0171 | پوهنتون شمول | 2 |
| ۲ | تجوید | SL. IC0171 | پوهنتون شمول | 1 |
| ۳ | انګلیسي (1) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۴ | معاصر تاریخ | | پوهنتون شمول | ۱ |
| ۵ | عمومي کیمیا | | اساسي | ۳ |
| ٦ | عمومي نباتات | Ag-Agron 111 | اساسي | ۳ |
| ۷ | عمومي زولوژي | Ag-AnSc 112 | اساسي | ۳ |
| ۸ | عمومي ریاضي | | اساسي | ۲ |
| ۹ | کمپیوتر (1) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۰ | د اسلام اعتقادي نظام | | پوهنتون شمول | 2 |
| ۱۱ | سیرت | | پوهنتون شمول | 2 |
| ۱۲ | انګلیسي (2) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۳ | فزیک | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۴ | عضوي کیمیا | | اساسي | ۳ |
| ۱۵ | نباتي سیستماتیک | Ag-FNR 0213 | اساسي | ۳ |
| ۱٦ | محیط زیست | Ag -FNR 0214 | پوهنتون شمول | ۱ |
| ۱۷ | کمپیوتر (2) | | پوهنتون شمول | ۲ |
| ۱۸ | غذایي مصونیت | Ag-FT 0215 | پوهنتون شمول | ۲ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | کرنیز ترویج اساسات | Ag-EcEx 0216 | اساسي | ۳ |
| ۲۰ | د مالداري د فارم مدیریت | Ag-AnSc 0217 | اختیاري | ۲ |
| ۲۱ | د اسلام اخلاقي نظام | SL. IC0175 | پوهنتون شمول | 2 |
